# د وخت ضرب

عبدالهادي (ملا)

دوخت

# ضرب

عبدالهادي (مــلا)

حقوق يې د مصنف دي!

**کتاب پېژندنه:**

***********************************

د کتاب نوم :: د وخت ضَرب

ویونکی :: عبدالهادي (ملا)

لومړی چاپ :: ۲۰۱۵ء

کمپوزر :: محمد نسیم "افغان"

ټائټل :: الشعیب ګرافکس الامان پلازه

چاپونکی او :: ځلاند صحاف خپرندویه ټولنه الامان پلازه

خپرونکی :: کاسي روډ کوټه

Samisahaf@yahoo.com

Samisahaf@gamil.com

د چاپ ځای :: لاهور

د چاپ شمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه

بسم الله الرحمن الرحيم

## اهداء:

د

میني سلطان

او

د

حُسن خان

ته

# مننه :

زه د ځان اخلاقي فرض ګڼم چي د خپل ګران ورور او مخلص ملګري، منلي شاعر او لیکوال "درویش دراني" نه مننه وکړم، چي د دې مجموعې د املایي چِک اَپ او د نظمونو د ترتیب او تنظیم په اړه یې ډېره ستړې وکول.

رّب دي دی آباد او خوشحال لري

ملا

# فهرست

❖ شمېر ....مخ
❖ يو څو خبري ....ج

۱. مناجات ........ ۱
۲. دُعا (بېرنګه رنګ) ........ ۳
۳. بېګانه شپې ........ ۵
۴. شيخ يې څاري د پله نښې ........ ۷
۵. ستا چې يادومه ځواني وه ........ ۹
۶. مينه حسن لېونی کړه ........ ۱۱
۷. تول د عقل زور د زهد ........ ۱۳
۸. د مينو شو کال آباد سو ........ ۱۵
۹. کاشکي ژوند مي توره شپه سي ........ ۱۷
۱۰. هندوستان راغی ختن ته ........ ۱۹
۱۱. ساقي واخله پياله واخله ........ ۲۱
۱۲. ځان خبر نهٔ ؤ له ځانه ........ ۲۳
۱۳. د ځان غم دی پر سر بار دی ........ ۲۵

۱۴. پرون بول د محبت وو ........................ ۲۷
۱۵. مرثیه د بېلتون ژاړي ........................ ۲۹
۱۶. د جلاد خاطر خندا يې ........................ ۳۱
۱۷. ننګ د میني جنګ د حُسن ........................ ۳۳
۱۸. رّبه څه قیامت به پاڅي ........................ ۳۵
۱۹. یاره زړهٔ خو مي تنګ نه دی ........................ ۳۷
۲۰. د وهمونو تال ته ناست یم ........................ ۳۹
۲۱. تښته ځان ساته زاهده ........................ ۴۱
۲۲. دا ښوچې توره کښلې ........................ ۴۳
۲۳. درنوي د خط نازونه ........................ ۴۵
۲۴. که شپې لار لیدای د زلفو ........................ ۴۷
۲۵. د خوښي جام مي نسکوره ........................ ۴۹
۲۶. چي په مینه څوک مین سي ........................ ۵۱
۲۷. زما خاطر ُد اغزو کښت سو ........................ ۵۳
۲۸. څه چپه باد را الوتی ........................ ۵۵
۲۹. اې د بخت او وخت واکداره! ........................ ۵۷
۳۰. څه د غم اغزي يې شنه کړه ........................ ۵۹
۳۱. مرګه جار دي تر پنجو سم ........................ ٦۱
۳۲. زړه چاودون ته رسېدلی ........................ ٦۳
۳۳. تولهٔ شپه يې په خوب وينم ........................ ٦۵
۳۴. باغ او یار، ځواني او مینه ........................ ٦۷
۳۵. څنګه درسم ستا درشل ته ........................ ٦۹
۳٦. غم د ميني ډوب کړمه ........................ ۷۱
۳۷. مستي د حُسن پیمانه د ميني ........................ ۷۳

۳۸. د وخت ضرب ........................ ۷۵
۳۹. د ځان خوب ........................ ۷۷
۴۰. خاپې د یو پله وینم ........................ ۸۲
۴۱. هُنر ........................ ۸٦
۴۲. هَل ........................ ۸۹
۴۳. ټوله ته یې ........................ ۹۳
۴۴. معجزې ........................ ۹۹
۴۵. یو سوال ته یو جواب ........................ ۱۰۲
۴٦. سارایي مینه ........................ ۱۰۷
۴۷. ورکه تنده ........................ ۱۱۰
۴۸. پردېسي ........................ ۱۱۳
۴۹. دا خانان، خانان زما ........................ ۱۱۷
۵۰. ای بزرگه بت تراشه! ........................ ۱۲۰
۵۱. دنیا ........................ ۱۲۷
۵۲. د سر له پاسه تن ........................ ۱۲۹
۵۳. دلته ........................ ۱۳۲
۵۴. وحشي خیال ........................ ۱۳٦
۵۵. رنګ ........................ ۱۳۸
۵٦. زه شاعریم ........................ ۱۴۰
۵۷. کوچې پېغله ........................ ۱۴۳
۵۸. اې زما قامي بیرغه! ........................ ۱۴٦
۵۹. د هلمند ترانه ........................ ۱۴۹
٦۰. د خان هوس ........................ ۱۵۲
٦۱. د شګو ثلې ........................ ۱٦۱

۶۲. د کار خَولې .................................... ۱۶۸
۶۳. خان ته جواب .................................... ۱۷۰
۶۴. دا شهزاده مه وهه! .................................... ۱۷۲
۶۵. ټوټې .................................... ۱۷۸
۶۶. د پېړۍ رنځور وجود .................................... ۱۷۹
۶۷. بې اسرې .................................... ۱۸۰
۶۸. فرېب، ژوند .................................... ۱۸۳
۶۹. هېرول .................................... ۱۸۴

نــی حریــف هــر کــه از یــاری بریــد
پرده‌هــائش پــرده هــای مادریــد
(مولوي)

# يو څو خبري...

آدم‌زاد، لکه څنګه چي د خپل عقل او تجربې په بنياد ګڼه او تاوان پېژني او د خپل حيواني جوړ په زور د خوړو او ترخو تميز کولای سي. هم هغسي د خپلو اندروني جذباتو په برکت خوبښ او ناخوبښ، بدرنګي او ښايست، ښۀ او ناښۀ، محسوسولای سي.
د ده معنوي وجود د دوو سستمونو څخه جوړ دی، يو عقلي (Rational) او بل جذباتي (Emotional). دا چي په دې دوو سستمونو کي کوم يو اولي او کوم يو ثانوي حيثيت لري يا د دې دوو تر منځ څه رابطه سته ده، او د دوی فعل او انفعالات څه؟ او څنګه دي؟ دا لوی بحث دی، چي د هوښيارانو، پوهانو کار دی. زه دلته صرف و خپلو ورستيو خبرو ته د يوې خاکې په حيثيت د جذباتي (Emotional) اړخ سره څه ځغلنده تماس نيسم، او په دې مورد کي کوم څه چي د وخت استاد ماته ښودلي دي له تاسو سره شريکول غواړم.
زه دا دی اوس څه زيات کم پنځه شپېته کاله وسوه چي د دې شنه چتر د لاندي پر دې خاورين غولي د ژوند په مدرسه کي روزل کېږم، او "وخت استاد"

لګیا دی ګله په سمه کله په چپه، کله په خندا کله په ژړا، کله په خوږو کله په ترخو د خپلي متروکي (قمچیني) تر ضرَب لاندي نیولی یم. مسلسل تربیت مي روان دی، او د انساني ژوند دوه بنیادي او مقصدي توري (**مینه او حُسن**) را زده کول غواړي، او له ما دوپایه حیوانه د انسان جوړېدو هڅه کوي. الله دي وکي رحم.

✡ ✡ ✡

زه چي ځلور، پنځه کلن ماشوم وم، او خپلي مورکۍ به ودونو ته ورسره بوتلم نو د غوړو سوو تورو پېکیو او تورو سوو سترګو له ښکلا نه به مي د ځان دننه یوه ګونګه شانتي مزه اخسته او خوندور احساس به مي کاوه. دغه احساس به مي پاپی وتخنولې او ماشوم ځان به مي په شرمېدلي او پښه نیولي انداز د یوې ښایستې ځنګ او کله غېږي ته ورساوه، او هغې به هم یا د سترګو په ژبه یا د لاس په لمس یا د مچکو په تودخه استقبال کړم.

✡ ✡ ✡

د دوبي د تاوده ماښام د توربخن شنه آسمان په غېږه کي د ځلېدونکو ستورو او رڼې سپوږمۍ سره ماشومانه راز و نیاز مي اوس هم یاد سي، د پسرلني سبا سحر لندې وږمې، د تنکیو شګوفو په پاڼو د پرخي د رڼو څاڅکو امېلونه، د بهېدونکو ویالو شینکۍ غاړي مي اوس هم تر سترګو سترګو کېږي. د چوغکو چڼ چڼ، د مرغومو امبا امبا، د غواګانو ړمبا ړمبا مي اوس هم د ذهن د زېر او بم په دنیا کي شور کوي، او له ځانه سره مي داسي ځای ته بیایي چي په ژبه یې نه سم بیانولای.

✡ ✡ ✡

او بیا زه د دیارلسو، څوارلسو کالو وم چي کله کله به مي بوډا پلار (په عمر کي مي نیکه او په مینه کي مي پلار) د حمید ماشوخیل د "دُرمرجان" پېښوری

مغشوش زوړ چاپ په لاس راکړ او له مانه به يې د ماشوخيل د ليکو اورول غوښت، داسي به نو هفته نيمه کي زموږ يوه په مزه مزه شاعرانه مرکه کېده. يوه ورځ زما مخي ته دا بيت راغی:

چي دي نوم په غوږو واورم سره لمبه سم
هومره سوز راکي پيدا کړي زما رّبه!

(حيمد)

او ما کتل چي د دې تورو په اورېدو سره د بابا تر خوله بې اختياره هوهو راووت د ځيگر قفسه يې په سرعت ځو واره پورته ښکته سوه. له سترگو او پوزي نه يې د رڼو اوبو ځاځکي پر سپينه ږيره راتوی سوه، خو ډېر ژر يې د ملايي رعب د سنگينۍ او صوفيانه خود داری په پردو کي له ما نه د خپل حال او ځان د پټولو ناکام کوشش وکړ. خو، زه پوه سوی وم چي ولي او څه وسوه...
او بيا، زه به قريب د اوولسو، اتلسو کالو زلمی وم چي يوه ورځ مي پلار په خپلو زړو غټ نمبرو چشمو کي د حيمد دېوان مخ ته نيولی ؤ پاڼي يې اړولې را اړولې او څه يې پلټل. چي پر پېښ سو نو د پلرنۍ ميني او استادانه جديت په گډ انداز يې زۀ داسي مخاطب کړم: "وه هلکه عبدالهادي! دا توري واوره، زده يې که او ښۀ چرت په کي و وهه:

هنگامــه د **ميـنـي** گرمــه ده تــر **حُــسن**
د مجنــون د درگــدا ســه لــيلا مــه ســه"

(حميد)

بابا مي هغه ورځ د خپل ذوق او زما د استعداد په کچه تر يو حده په دې دوو تورو (مينه، حُسن) پوی کړم.

✡ ✡ ✡

ژوند روان او د وخت ضربې چالو... الله دي وکي رحم.

او زۀ نو اوس يويشت کلن، دوويشت کلن زلمی وم د فاکولتې د دريم کال شاګرد وم چي د "ورمې مياشتيزه مجله" کي مي د "زه شاعر يم" تر سر خط لاندي يو اوم لنډو کی شعر خپور سو چي د پای توري يې دا وه:

"زه شـاعـر يــم، زه شـاعـر يــم
زمــا کــار دی مينــه حُـسن
نـور لـه هـر څـه نـه منکـر يـم"

خدای بخښلي استاد "پوهاند رشاد" چي هغه وخت د پښتو ادب د څانګي صدر او ورسره د ورمې مجلې د کتوونکي ډلي مشر هم ؤ د پوهنځی په انګړ کي مخي ته راغی نو په هغه خپل همېشني مهربانه سترګو او ډکه خوله خندا يې د يوې خوشخبری او ضمناً د تشويق راکولو په لهجه راته و ويل: "هلکه عطائي! د مجلې دفتر ته ورسه او د خپل شعر حق الزحمه دي واخله." د ستهوډنټی او لوفری زمانه وه، عايد کم او خرچه ډېره، او دا ورځ هم اغلباً د جمعې شپه وه د ښار د پارکو د چکر او د ميکدو د طواف واری ؤ. نو سمد ستي مي و دفتر ته مخه کړه او رقم مي وصول کړ، په بازګشت کي استاد بيا وپوښتلم "څو افغانی وې؟" ما په خودساخته انداز ورته و ويل "زما د خرڅ سوي مبلغ نيمايي په شعر مي اووه زره خرچه... راغلې وه او دوی درې نيم زره راکړې" هغه چي زما د خبري په مطلب پوه سوی وو ښه خوندوريې وخندل خو ډېر ژر يې خپل وقار پر ځای کړ په تحکمانه جديت يې راباندي پړق وهل: "لوچکه! بې ادبه! بلکل **Hedonist** درنه جوړ سو... غمجنه مستي دي مه سه چي تاکي له کومه اخښل سوې ده...، په هر صورت د ميني او حُسن رسالت ته په دونه صراحت تسليمېدل او د نورو ټولو ارزښتونو څخه انکار ډېر خوږ او په ځای بغاوت دی، ښه شاعرانه حقيقت دی خو د ماحول او خپل ژوند هم څه خيال ساتل پکار وي...".

ژوند روان او د وخت ضرب چالو... الله دي وكي رحم.

زه تر ۵۵ كلنۍ په تېښته تېښته را واوښتم، زما په امريكن ښار "ورجينيا" كي د ذوق د ملگرو ځوانانو حلقې چي موږ د دروېشانو حلقه نومولې وه، د اشنغر د مست ملنگ د ژبي د خان؛ "غني خان" د تجليل پروگرام نيولى ؤ، د حلقې گُرو كاكا جلالي (ډاكټر لطيف جلالي مرحوم) په وچ زور زه هم د دا لوى ږيري او د ملايي د اسمي ټائټل(!) سره سره وميدان ته ور ټېل وهلم، او د دې مجلس د صوبه دارۍ (مشرۍ) د اغزو تاج يې زما په سر كړ. نو، مجبور سوم د غني خان څه چاپ سوي ليكي مي د څه خبري مبري د تيارۍ لپاره لټولې چي پردې تورو يې پېښ سوم:

ستوري ته آسمان كي يوه ورځ و وې هلال
خداى آدم ته مينه وركړه موږ ته تش جمال
زه به په خندا وركړم دا خپل د ښايست كمال
ما له كئ يو څاڅكى مينه راكړي څوك په سوال
مينه حقيقت، حُسن سايه د حقيقت ده
حُسن له زوال سته، مينه نه لري زوال

د خان دا د مينې د حقيقت او د حُسن د زوال په كوټيشن مي ډېري ورځي سر او زړه (ذهن او احساس) بوخت ؤ، ما په دې گاى دومره مراقبه وكول چي قريب، قريب د غه قال مي حال وگرځېدى...

او بيا چي مي د غونډي په شپه د خان "لټون" كتاب ته لاس كړ نو دا توري را ووتل:

ليري ليري په وريځو كي يوه سپينه څوكه ښكاري
خو په لاره كي درې دي، غرونه غرونه د غمونو

که په عقل ور روان سې، که ایمان جادو ته بوځې
که صوفي، سادو، ملنګ سې، که باچا سې د ملکونو
د دنیا لاري بې شماره، هلته بس یوه ده لاره
نوم یې مینه او رحمت دی، نوم یې مینه او وفا ده

ژوند روان او د وخت ضرب چالو ... الله دي وکي رحم.

تېر کال زما استاد شیخ (حنوتي) د الله او اِله د تورو پر لِساني اشتقاق باندي خبره راته کوله تر ډېر قیل و قال وروسته یې دا خبره وکړه چي د عربي د لِساني او لفظي اشتقاق په حساب د الله توری د میني معنٰی ورکوي، د میني جاذبه او (Feeling) د ایمان ستهه او د خدای د محسوسولو یواځینی لار ده، او د اِحسان، حسنه، حُسنٰی، حَسین د کلماتو لفظي اشتقاق د حُسن له توري سوی دی چي اساساً د ښکی معنٰی افاده کوي.

په ما د شیخ دا خوندور استنتاج او توضیح یو حال طاري کړ، ترخوله مي بې اختیاره سبحان الله سبحان الله و وتل، ځیګر مي تود او سترګي مي لندې سوې.

د خدای، میني او حُسن متعلق مي د لېوني فلسفې (غني خان) هغه ښو لیکي سترګو ته ودرېدې چي د خپل شعر په یوه سریزه کې دا سي لیکلي وو:

"شاعر که خدای نه پېژني شاعر نه دی او ښوک چي ښایست ونه پېژني هغه خدای نه سي پېژندلای، حُسن ښکي ده او ښکي حُسن دی. چي کوم خیال ښایسته وي هغه ښک وي او کوم ځهٔ چي ښک وي هغه ښایسته وي".

ما چي د میني او حُسن متعلق د فرزانه شیخ او مستانه شاعر دا اتفاقِ نظر ولید نو خپل دننه مي د اطمینان یو کیفیت محسوس کړ، او بیا چي مي د خپل ګډوډ . لوړ کښته، سارهٔ تا ودهٔ ژوند ټولي تجربې او خاطرې د جذباتو او حالاتو فعل او انفعالات، کامیابۍ ناکامۍ، خوښۍ غمونه، ښکلاوي بدرنګۍ. عشقونه او ننګونه، اندروني جذبې او بهرنۍ کرشمې، د زړهٔ نور، د سترګو

سرور، د میني سوز او د حُسن ساز ته بنهٔ پام را وګرځاوه نو د یو فیصلې و پولې ته مې ځان نږدې احساس کړ او هغه دا چې د انساني هستي معنٰی به ټوله بس دغه دوه توري وي: **مینه** او **حُسن** (خدای او ښکې).

**مینه**؟

مینه یو بې تعبیره نفسیاتي کیفیت دی، د روح روح او د معنٰی معنٰی ده، راغلې له پورته (عالم غیب) څخه ده او د انسان د ذات سره تړلی یو مفهوم دی، چې له ازله تر ابده ورسره ملګری دی- نه تمامېږي، نه مري او نه زېږي، په هر وخت او هر ځای کې: نن دلته د دې شنه چت دلاندې د خاوریني مځکې پر مخ د آدم د زوی هر دمه همدمه، او سبا هلته د نورونو په نهرونو او د خوندونو په جنتونو کې هم ورسره ورسره یو نه بېلېدونکی رفیق سفر دی.

دا د آدم زاد د ختمي ملګرې صبغه، اخښل سوی جوهر، ابدي جذبه او دائمي ولوله ده.او:

**حُسن**؟

حُسن د میني د تال تول، د رنګ ډنګ، د ظهور بهانه او د سرور ترانه.

مینه ایمان دی او حُسن ښکې ده، مینه د زړهٔ احساس او حُسن د حواسو اِدراک دی.

په روغ بني آدم کې بې ایماني (د انکار کفر) لحظه قدرې هم ممکنه نهٔ ده، خو ښکې (حُسن) کله وي او کله نهٔ وي، کله په یو رنګ او یوه جامه کې، کله په بل رنګ او بله څیره کې جلوه کوي:

"هنګامه د میني ګرمه ده تر حُسن..."

(حیمد)

"حُسن له زوال شته مینه نهٔ لري زوال..."

(غني)

او یا دا:

"مستي د حُسن پیمانه د مینې
راج د حسینو نذرانه د مینې"

ځکه نو زما له دننه مې د "زړهٔ پاچا" دا پیغام راغلی:

انساني هستي بس دغه دوه توري دي: **مینه** او **حسن** (خدای او نېکي).

د کائناتو د خلقت او دوام، د دنیا و آخرت ټوله جنجال، د مځکې او آسمان ټولې نقشې او فیصلې، د بني آدم د خلقت راز، د دهٔ ټوله دننه او بهر، د دهٔ ټول جسم او روح، د دهٔ ټوله پرون نن او سبا... د دهٔ جِبِلَت، د دهٔ مسیرِ ممات او مقصدِ حیات بس د دغه دوو تورو په دائره کې چورلک وهي.

زهٔ چې د وخت د استاد ضرب تردې ځایه را ورسولم، نو مې د خپل دې سبق د پخېدو او تکرار په غرض د دنیا د مشغلونه ځان را پرې کړ. د قال د جنجالي ښارېې نه مې د حال و خاموش کلي ته هجرت وکړ، د امریکنو هوښیارو سپین مخو د طلایي قفس نه را والوتم، دلته مې دې ساده خرمخو کلیوالو ته پناه راوړه او په خپله خاورینه هجره کې معتکف سوم...

✡ ✡ ✡

خو، ژوند او وخت دلته هم آرام نهٔ پرېښودم، دا دی بیا هغه زوړ استاد هغه زړه قمچینه... ژوند روان دی او د وخت ضَرَب چالو،... الله دې وکې رحم.

او وسوه دا چې:

د مینې د سلطان او د حُسن د خان سره مې کلونو کلونو مکاتبې او مراودې، زما د غیر حاضرۍ او پردېسۍ په ورځو کې د حجرې د محرمو دوستانو د خلوص یا سادګۍ په وجه بهر نامحرمو لاسو ته رسېدلې وي. د رازونو پُس پُسی په ګنګوسو بدل سوي ؤ او د مینې او حُسن د یادونو او خوندونو پټ پټهاني، یا، انې او نذرانې چې ما له ځانه سره د **ځو لیکو** او تورو په شکل کې پټ ساتلې وو (او تر مرګه مې د پټ ساتلو اراده وه)، کتل مې چې دې خوا هاخوا د نشرېدو او چاپېدو په درشل کې دي. زهٔ مظلوم له دې وېرې چې دا امانت توري

د بل چا نا اهل یار یا غدار په لاسونو مسخه نه سي، بالاخره دې ته مجبور سوم چي د خپل هوډ او سلیقې برخلاف دا ګستاخي وکوم او دغه لیکلي او توري په خپل لاس چاپ او نشر کړم...

چي د چا ظالم خاطر یې، په لیدو پرېشانه نهٔ سي
د نـامراده ارمـان څلی، نن پـه خپـل لاس نړومـه

✡ ✡ ✡

ژوند روان دی او د وخت ضرَب چالو... الله دي وکي رحم.

هلکان (زما بچي خان او حبیب) لګیا سوه، زما د څه کم پنځوس کلن قلمي ژوند نیم سوځلي، نیم ورک، نیم مسخه سوي، نیم غلا سوي، کاغذونو ترانګي راټولوي زما د جهالت د دوران څه چاپ سوي او تي بوتي او څه د میني د سوز او د حُسن د ساز قلمي پارچې او ترانې دادی صفحه بندي کوي، او زه مظلوم ورته ناست یم د زمانې په دود سریزه ورته لیکم. د ګونګی مینې افاده، د ورک جنون قصه، د حسن د خان ننګ، د جابرو تورو جنګ، د ځان (EGO) د بت رسمول، جوړول او نړول، د لا، لا د فوج حمله، د اِله د غره پېچومي، د مقلد شاعر د خود ساخته مستی پرده دري، د مغرور مُلا د خود پرسته ضمیر ناپاکي... د شهوت په مرداری یخی سترګي، د شهرت له لوږي پړسېدلي خېټې، د قدرت او دولت له تندي راختلي بې شرمه سترګي. څه او څه...

د خان د ښایست بیان او د جانان د کور لار، د وصل جنت، د هجر دوږخ... څه او څه؟... دا هر څه باید د دې غمجن مسه "د وخت ضرَب" د مجموعې په سریزه کي ولیکم- زما له توان بهر یو ناشونی کار.

خو زه یې باید وکوم، رنځور بدن، ستومانه ذهن او د قال له بګواس څخه د حال و معهود فی الذهن ارمان ته د منډي سترې...

✡ ✡ ✡

ژوند روان دی او د وخت ضَرَب چالو، الله دې وکي رحم.
او زهٔ؟ دا دی ناست یم د سریزي یاداشت ورته لیکم، هغه کار کوم چي ما يې هیڅ وخت تصور لا هم نه سو کولای، څهٔ وکړم چاره څهٔ ده؟ یو خوا زهٔ مجبور یې وسه بني آدم او بل خوا...

"د خان د حُسن ننګ، د جابرو تورو جنګ..."
"د ګونګۍ مینه غصه، د جنون ورکه قصه..."

اولا دا دی لګیا یم:

"په مخ ځم په خوله پرېوزم
وحشي ژړګي ښکلومه
د نامراده پرون کښت دی
ترسبا به يې رېبمه
یو لار ورکی پردېسي یم، ستړې لاره لنډومه..."

ستړی سوم! په والله چي ستړی سوم، رنځورو ګوتو او ستومانه ذهن کي مي نوره ساه نسته ده...
ژوند روان دی، مست بې توله پهلوان دی:
زما له خولې راوتلي د میني او حُسن پټي لیکي او محجوب توري جبراً راباندي لځوي... ګناه او ثواب يې هغو ته حواله چي د حجابو د پورته کېدو هڅي کوي.

❁ ❁ ❁

**نوټ**: ''د وخت ضرَب'' ګرانه ویونکې!

په یو قوم کي چي د ذوق پر میدان له نومونو او رسمونو بې پروا قلندر مست **غني** موجود وي، کوم ناخبره ګنده **بغل** او کله خراب به د شاعري ادعا کوي؟ او کوم بد ذوقه بې خبر به یې د شاعرانه نفاق د قیل و قال خریدار وي، او خوله به یې خوږ وي...

هلکه! چي د باړې د کبابونو ډک تالی دي مخي ته پروت وي، د ماشیني چرګوړي په هورمومني وِنګو لِنګو څۀ له مظلومه خېټه پړسوې... ګرانه! لږ سوچ په کار دی. الله دي وکي رحم.

رب مو ونازوه

ملا

شنبه- ۷/ مارچ/ ۲۰۱۵
د ملا حجره
کوټه

# مناجات....

زهٔ ليکم ليکلي ليکي، ترنم د ترانې!
زما يو حُسن په زړهٔ اوري،
جوړوم يې تصويرونه
ما يو خوب په زړهٔ ليدلی،
پلټم يې تعبيرونه
تور او سرهٔ تکي پېيمه، کاتب زهٔ خو "قلم ستا" دی

دربولې مې، دروې مې، زهٔ قاصد د نذرانې!
قربانې د عشق نامهٔ ته
شهادت مې په تندې کې
غر د مینې مې په شا دی
د ګل بوی مې په غوزې کې
و درشَل ته یې دروړمه، روان زهٔ خو "قدم ستا" دی

سازوې مې سوځوې مې، زهٔ تقدیر د پیمانې!
د ساقي په نیت ډکېږم
د دلبر په سَت تشېږم
نازولی د ګلال یم
په سکروټو کې اوسېږم
"اومه خټه پخومه" بتې زما ده خو "دَم ستا" دی

۲۰۱۵- کوټه

٭ ٭ ٭

# دُعا...

لږمي اې د خيال شرابه! شرابي تنده لمبه کړه
لږمي اې د نشو خدايه! دا خمار عقل نشه کړه

لږمي اې د ميني اوره! په لمنه کي راتوی سه
لږمي اې د جنون شوره! دا سره حجره توده کړه

لږمي اې د حساب سيورې! د کتاب له پاڼو پاڅه
لږمې اې د ښايست لمره! دا رنده توبه رنده کړه

لږمې اې ګنهکار حُسنه! و خپل څنګ ته درنږدې کړه
لږمې اې رياکار زهده! د باغي ذهن پرده کړه

لږمې اې د سترګو کيفه! په مسند د سترګو کښېنه
لږمې اې د شونډو خونده! په خوندونو کې مېلمه کړه

لږمې اې د مستۍ موجه! د هستۍ کښتۍ راګير کړه
لږمې اې د خودۍ سينده! بېخوديو کې غوټه کړه

لږمې اې د زمان تنګه! له تنګونو څخه هير کړه
لږمې اې د مکان رنګه! په بېرنګه رنګ رنګه کړه

اکتوبر - ۱۹۸۵
پېښور

✡ ✡ ✡

## بېګانه شپې...

کله کله مې سي يادي، هغه تللي هغه ښه شپې
د هېر سوي خوب څو ټاپې، د ماضي نشه نشه شپې

سحر ټوله هيله هيله، ماښام ټوله بخښنه! بخښنه!
هغه ټول تسبيح تسبيح ورځ، هغه ټول توبه توبه شپې

د سر مست حُسن لمنه، د بدمسته سر خوبونه
ها چي هر جام دوه منی وُ، په خُمونو پيمانه شپې

څنګه ورکه سوې په شپو کي، څنګه ډوبه سوې تيارو کي
د زمان د هار زينته! د يادونو دُردانه شپې!

ویده بخت دي لا ویدهٔ کړ، د بیوس ملنګ دوهی کې
هیڅ یو هَل دي کارګرنهٔ سو، د مردانو نذرانه شپې

چې سکوت د نیستی مات سي، او څهٔ شور د هستی جوړ سي
تویَوم د ژوند په جام کې، د مرګي دانه دانه شپې

څو چې وي د څمکي پوله، څو چې وي د آسمان خونه
په رنځونو به تیرېږي، دا د میني افسانه شپې

څو چې وي نو خیزه حُسن، څو چې وي لېواله تنده
تل به دا شوګیره خیال وي، تل به وي دا رندانه شپې

که له غاړې نه یې تاؤ سوم، که لمنه کې یې توی سوم
نهٔ د وصل ورځ ودرېږي، نهٔ شوې خپلي بیګانه شپې

اکتوبر – ۱۹۸۵
پېښور

○

شیخ یې څاري د پلۀ نښې، ما یې کور لیدلی دی
دۀ کتلي د عشق توری، ما یې زور لیدلی دی

دا اوږده قصه د زلفو، دا لنډی دعوه د زهد
دۀ یې تار لیدلی نۀ دی، ما یې تور لیدلی دی

چا ته وژاړم چې څوک مي، سوځوي د خاطر خونه
نۀ یې دود، نۀ یې لمبه شته، نې چا اور لیدلی دی

عقل خوار سودایي ګرځي، جنون مست موج د خندا
یو اوربل تر پلو لاندي، او بل خپور لیدلی دی

## ۸

"پښتنې په کتونځي" ګرانې! زما ابۍ ويل:
"وروريې ګوره خوريې غواړه"، مادې ورور ليدلی دی

پنجابي تيل يې وهلې، لاس يې نۀ تيېنګوې لاس
ربه! خير مو کړې پښتو ته، خان لاهور ليدلی دی

زمانې! مو سا دې څۀ سو؟ محراب و نيو سحر ګرو
سامري ته په سجده مې "دلدل سپور" ليدلی دی

ورځ منبر، عِتاب او وعظ، شپه بدنام بازار د حُسن
"سپين پګړی" مې په سياه سرو کې سرتور ليدلی دی

د دې ښار غسل واجب دی، د قدرت شيطانې خوب
هم قاضي، هم محتسب، هم ملا تور ليدلی دی

جون- ۱۹۹۹
واشنګټن-دي، سي

○

ستا چي ياد، ومه، ځواني وه، تا چي هېر كړم اوس زړېږم
مست اتڼ وم بهېدمه، د روند خيبر سوم را نرېږم

دا د لمر د تندي اور دی، د مالګينو شوندو زور دی
تنده نهٔ سوه يو بلا سوه، ډوب په بحر نهٔ اوبېږم

تور او سرهٔ رنګونه يو دي، د وخت لمر ته نهٔ ټينګېږي
که له سترګو دي کړم لري، نو د شونډو هم هېرېږم

په پېرزو د ياراني مي، شهادت را خراب نهٔ کړئ
د ګدی يارانو واورئ، لاس مو نهٔ غواړم ډوبېږم

د سحر د سترګو پرخه، د مازګر د غروب کرښه
ستا د حسن خیال آباد کي، پردېس خیال یمه تېرېږم

خولهٔ مي بوی کړه بېګناه یم، نهٔ ځهٔ ځکلي نهٔ خوړلي
دي محله کي د رندانو، شیخه تا نه لړېږتېږم

تا وي غیږي ته را رنګ شه، زما د غم "پښتو" د غاړي
ستا د ورور د بدی یمه، خوله موره دي شرمېږم

اپریل– ۲۰۰۸
واشنګټن دي، سي

✡ ✡ ✡

○

مینـه حُـسن لېـونی کـړه، لټـوي د صـحرا لاري
ښـو غـرۀ تـه کـډه وکـړه، جـوړوي د وفـا لاري

اُمید بیا په وعده تېر ووت، منتظر جنون ژوندی سو
تېولـوي لـه کوڅـو کـانې، پـاکوي د سـبا لاري

دا دستور د ښار د ښکلو، چې پر ښکلو لارو درومي
موسم تـوی کړه د ګل وینه، رنګوي د ښکلا لاري

څۀ بې لمر د تندي ګورم؟ د کاکل په توره شپه کي
خانـه! دا تـوري لـښکري، بنـدوي د رڼـا لاري

شیخه ستا د عذاب دروند رېږ، د رندانو په محله کي
نـــړوي جنتـــي خـــوني، ورکـــوي د دُعـــا لاري

یو خوا حُسن، بل خوا مینه، ربه! ستا آدم مظلوم دی
پـه دې ختـه کـې لـړاورد ی، وربـیي د ګنـاه لاري

مُـلا څهٔ لـه لمـن نغـاړي؟ د فتنـو لـه سنګ بارانـه!
دا رانجـه د هغـو سترګو چـي څـاري د بـلا لاري

مارچ– ۱۹۸۶
میامي– فلوریډا

۞ ۞ ۞

تـول د عقـل، زور د زهـد، د وهمونـو هـديره سـي
د بېبـاک حُـسن جلـوه چي، پـر بېوا کـو راخپـره سـي

يـو خـوا حُـسن د لفرېبـه، بـل خـوا سـترګي بې جلبـه
ستا فطرت ربه! جنجال دی، منځ کي هسي زموږ قصه سي

تر چرې لاندي يو ساه ده، مرګ سايه د مسيحا ده
ګوره کوم دارو اجل سي؟ ګوره کوم پرهېز وعده سي؟

مجنون ورځ د سارا سترې، شپه ځاري د راتګ لاره
لیلا ورځ د زړهٔ په ښار کي، د شپې سترګو کي ویده سي

سل وعدې د وصل تېري، زر کلني شپې سبا سوې
دا د ښکلو د خولې "لوظ" دی، په قیامت ګوندې پوره سي

ډېر ظالم توبه شکن دی، ښایسته مهٔ چېرئ ملیانو
که یې یو وار د رته مخ سو، له توبو به مو توبه! سي

مئ – ۱۹۹۲
واشنګټن ډي، سي

○

د مینوشو کال آباد سو، د شرابو ارزاني ده
عقل بند پر بند ماتیږي، د بدمست جنون خاني ده

توبې! مړه لور دي پیدا سه، زهده! غبرګ ځامن دي ومره
هلته وارد پیالې تېر سو، دلته پاته لاځواني ده

په دوږخ د بیلتانهٔ کي، ما ستا رنګ ساتۍ په زړهٔ کي
ګله! وینه دي ترخه سوه، د زقومو آبیاري ده

کله مست موج د خندا سي، کله غم په غم زنګیږي
د حالاتو جبر نه دی، د ژوند خته شرابي ده

تــوره شــپه د ېلتانــهٔ ده، تــور د مينــي، تــوره تبــه
ســتا د ســترګو د يــاد بــزم، د تورانــو مهمــاني ده

مقـدس جنونـه! پـام کړه، لاس دي ساتـه لـه ګرېوانـه
مينـه پټـه پـه پـرده کـي، درنـه پېغلـه سـارايي ده

د آدم د ګنــاه بــيه، د فــردوس د بــاغ ګلونــه
ملايــانو ځــان خبـر کــړئ، دا خبــره کتــابي ده

۱۹۹۷ – واشنګټن دي، سي

○

کاشکي ژوند مي توره شپه سي، او یار ورکه کړي د شپې لار
کاشکي بخت مي سپین سحر سي، او ورک را ولي پر دې لار

زړه مي لاس کي را اخستی، د لیلام لیلام ناري کړم
مونده نهٔ سي په درست ملک کي، د دلبرو د کوڅې لار

بېګا ټول خُمار خُمار وم، سود او زیان ته مي پام نهٔ وُ
مُحتسب نه مي پوښتله، ستا د پټې میکدې لار

دا هستي او نیستي دواړه، د جانان د کلي لاري
یوه ښکلې د باغ پوله، بل سپېره د هدیرې لار

د شیطان سره یې جنګ دی، د آدم د رباب ترنګ دی
"د شیخۍ لاره کچه ده، ښه پخه ده د توبې لار"

ای پردېس د غرهٔ ګلابه! د شهیِ ځګر ته ځمه
راځه! ما ته را معلومه، د ګلونو د باغچې لار

ښښتنې اوښکې رهي سوې، فریادي د خان درشل ته
د مظلوم خاطر تسل وي، د مجبورو د جرګې لار

مئ – ۲۰۰۸
ورجنیا – امریکه

✡ ✡ ✡

○

"هندوستان" راغی "ختن" ته، که‌دي باد ځني خوري کړي
کوم‌موسا ده جلوه غوښتي، بیا کوم غر ذري ذري کړي

شپه‌او ورځ، یخ او ګرمي دي، خپل جاګیر، ته‌ په‌ پو هیږي
خو، د هجر ورځي لنډي، او د وصل شپې اوږدې کړي

یو درخواست لرم امیره! ستا په‌ ملک کي یو حَسین دی
ما تر زړهٔ پوري راوستی، کي لږ نور هم را نژدې کړي

چي کري د غم بمونه، چي رېبي خیالي سرونه
ها مغل پر مغزي مات کړي، د زړګي مړاندي یې پرې کړي

# ۲۰

جنون تېرې د دیدن دی، حُسنه ستا "پرده" پرده ده
د مجنون ځنځیر ماتیږي، که لیلا پور ته پردې کړي

د ډېـــري بـــت مـــاتېږي، کـــه د زړوويي خرڅېـــږي
د "ځـــان بُـــت" پـــر ســـراخـــستی، طوافونـــه د کعبـــې کـــړي

یـــو پـــردیس زاهـــد راغلـــی، میخانـــه پـــه دعـــا ســـرده:
"جام چي شونډو ته نژدې کړي، ربه! هیري یې توبې کړي"

۲۰۰۲-واشنګټن ډي، سي

○

ساقي! واخله پياله واخله! نور دي خُم را نذرانه کړه
زما تنده د عُمرونو، يو درياب را پيمانه کړه

د مکار زاهد پر قبر، بدمستان سره ټول سوي
انتقام له ژونده اخلي، هديره يې ميخانه کړه

د گمراه عقل ځنځير مي، د گلرخ په پښو کي توی کړ
د پايزېب له هره شرنگې، جوړه مسته ترانه کړه

د خـزان زخمـي بلبلـه! پـسرلى دي مبـارک سـه
د سرو ګلو په بستر کي، هېره تېره افسانه کړه

بيا بې ګورو چي شيخ څنګه؟ لنډوي د جنت لاره
ستا مستي يې په سر بار کړه، زما جنون يې زولانه کړه

چي فتـوا د ملايـانو، بيـا سـزا نـهٔ کـړي واجبـه
د قـضا د مـسند مُهـر، د مينوشـو حوالـه کـړه

مارچ – ۱۹۷۹
کابل

○

ځان خبر نهٔ ږ له ځانه، سترګو مینه کړه رسوا
تغافل ږ که غفلت ږ؟ خانه! دا د چا ګنا

عشق بیعت له وفا اخلي، عافیته! خبردار!
ښار مقتل د فرزانه وو، د ښت میدان د کربلا

سترګو! پټ پردو کي ښهٔ دی، ها د حُسن مصلحت
د جلوې په یو اندازیې، نړېدلی "غر موسا"

مینه څومره غیرتي ده؟ حُسن څه د فتنو لار؟
د یعقوب د نظر غشي، یوسف شومه کړ د څا

بصیرت د جنون غواړي، هر قدم د لیلا کور
افلا تونه بېخبره! د رندو د ښار باچا

د وسواس سرسام زیاتېږي، د شیخانو په دمو
که ایمان د مرگه ساتې، بس یو مست هَل د دُعا

ها چي وایي توري وریځي، د اور کاني اوروي
همدغه د سترگو جنگ دی، همدغه توره بلا

ستا د میني مرموزمتن، په عیان کي پټ پنهان
په حاشیو کي سرگردانه، که طالب دی که ملا

اپریل– ۱۹۹۴
واشنگټن ډي، سي

○

د ځان(!)غم دي په سر بار دی، په دې ورهٔ کي نهٔ ځائیږي
دلته تولهٔ "دی او دی"! دئ، "تهٔ" په "دهٔ" کي نهٔ ځائیږي

دوی وایي زړه د مؤمن لوی دی، عرش د رب پکي ځائیږي
کافر عشقه! څومره لوی سوې؟ چي مي زړهٔ کي نهٔ ځائیږي

ګوره کومه غلا دي کړې، تا له ښهره د خوبانو؟
دا د چا بد درېسې دي، چي په غرهٔ کي نهٔ ځائیږي

تلبیـه پـه زړهٔ کـي وایـم، اې لبیکـه! معـذوري ده
خولهٔ مي ډکه په "یو نوم" ده، ته په خولهٔ کښي نهٔ ځائیږې

خان که جوړي فیلخانې کړي، د مزاج تنګي یې نهٔ ځي
عقله! هر څهٔ زور به وکړې، خو په خرهٔ کي نهٔ ځائیږې

اوښکي! روی د ګرېوان ګوره، څه د زړهٔ و حرم سرای ته
آخر !کلی د پښتو دی، پـه لېمـهٔ کـي نـهٔ ځـائیږې

۲۰۰۶-واشنګټن ډي، سي

☆ ☆ ☆

○

پرون بول د محبت ؤ، نن د سر سودا پخه سوه
د خپل پَت په نوم سوګند کړي، مينه "پيغله پښتنه" سوه

دا د ګونګي ميني شور دی: "پلټون ښهٔ دی وصل اور دی"
هلته چين د جبين لري، دلته جوړه زلزله سوه

د شبخېزه اوښکو څاڅکي، د توبې په تار پيو دلي
د يوه نظر شبخون ؤ، هره شپه دانه دانه سوه

هی توبه له توره بخته، هی توبه له بد انجامه
خدای راکړي دولتونه، د بُت پښو ته نذرانه سوه

د ظفـر آیـت دي راغـی د تـوبې صـفحه منـسوخه
ستا د "خط" فرمان تسلیم دی، زما هستي در حواله سوه

"لاوارث دولت د حُسن" د سپېرو خاورو یو موتی
"شش محل د ولایت" ؤ، اوس د کلي هدیره سوه

چرته حوري، جنتونه؟ چرته سرې سترګي جامونه؟
ملا نهٔ یم قلندر یم، زما دغه آب او دانه سوه

اکتوبر – ۱۹۸۵
پېښور

○

مرثیه د بېلتون ژاړي، روح له تنه په واته دی
پام تر پېښو یې لاندې نه کړې، په دې څاڅکو کې یو زړه دی

اُمید سپین کفن اغوستی، عرفات ته د دیدن ځي
وفا سر په سجده ایښی، دا زیارت د ګران د پله دی

زه د میني جَل وهلی، ستا ښایست د شراب موج سو
ژونده! لږ انصاف خو وکړه! نوم دي "مرګ" نه دی نو څه دی؟

آذري وجود مي تول‌ه، په توبو اره اره سو
بت مي سرپر زړګي ایښی، په درانه خوب لا ویده دی

انتظار د یو راتګ دی، ته خو نه یې اجل څه سو؟
دا یې لار تیاروکي ورکه، که هغه هم ستا په خوله دی؟

افلاتون دوږخ ته سیخ سو، شفاعت د مجنون غواړي
تر خروار عقل او پوهه، یو مثقال د جنون ښه دی

د تقدیر او تدبیر جنګ سو، ایمان دا غزله وایي:
"د مستانو مېله جوړه، د شیخانو لاس په خوله دی"

سپوږمۍ ګوري په اوبو کي، رنګ د حُسن آئینو کي
مخامخ چي کتای نه سي، مُلا دا خوی دي د غله دی

۱۹۹۷– واشنګټن ډي، سي

✡ ✡ ✡

○

د جلاد خاطر خندا يې، ګوره څنګه عنايت وُ؟
خون بها يې څله راکړه؟ زما د سرخو اجازت وُ

د بڼو خنجر کافي وُ، زه خو هسې نيم بسمل وم
چې د زلفو په زندۍ کې، د قاتل څه مصلحت وُ؟

د جوته شرابو نيم ګټ، ميخانه کړله مدهوشه
دا هنر د ميفروش وُ؟ که د شونډو برکت وُ؟

د وصال طلب يې شَل کړم، د بېلتون ژړندي يې دَل کړم
مينه نهٔ وه مجبوري وه، د بلا خولې ته هجرت ؤ

اورېدي ګولۍ د سترګو، بلېدي لمبې د شونډو
ځوانۍ! ستا په عشق آباد کي، څومره ښکلې عافيت ؤ

بېګا بيا شپه زر کلنه، بستر بيا اغزي کړله
ګيلې بيا وې په سلګيو، ستا له جوره شکايت ؤ

۲۰۰۶- واشنګټن ډي، سي

○

تنګ د میني جنګ د حُسن، د سرو سترګو آشنایي ده
بڼو تېغ له تېکي ویوست، ګرانه او ښکه زنداني ده

ساه به ورکړم تا به ساتم، غمه! زما مور پښتنه ده
د لغړي زني یاري یې، تر لحده مو یاري ده

پر هر پټ ساته زړګیه! چي مي روح لا خبر نهٔ سي
عشق مقام د خود داري دی، دلته "آه" هم رسوایي ده

ستا د حُسن لـه غـروره، زمـا د میني لـه غیرتـه
د پښتون تقدیر نصیب مو، په وصال کي جدایي ده

تـوره شپه د بېلتانـهٔ ده، تـور د میني تـوره تبـه
ستا د سترګو د یاد بزم، د تورانـو مهمـاني ده

و درشل د عشق تـه تلمه، په مقتل د سترګو پېښ سوم
ملا جانه! کتاب ګوره، دا قصاص که قرباني ده؟

۱۹۹۷ – واشنګټن، ډي، سي

○

ربه! څه قيامت به پاڅي؟ د کتلو له نظره
غرچپه، قاصد بېخوده د ديدن له تش خبره

ساقي سترګې په طواف سو، څم لا رنګ نهٔ دی راوړی
کوم يو مست په خود راغلی، رنګ يې تښتي له اثره

ځان ته "ځان"(!) ويل د عقل، له جنون سره ډغره
پيالې ځکه جنتي دي، دا سودا باسي له سره

اِمامان د تذوير راغله، فاتحه د ايمان اخلي
فَرشتې تښتي له کرکي؛ شيطان ځان ساتي له شره

مجنون خوب کي جنت ولید، هر څهٔ وو لیلا یې نهٔ وه
وې یارانو جنت شَړ دی، ځان ساتئ لـدې سقره

د آدم ژبه خو مینه پوه په خوند د هجر او وصل
دا جنت دوږخ لا څهٔ دي؟ لږ خو پوی مې کړه دلبره!

زما سجده خاورې کېدهٔ دي، ستا معراج ځانته کاتهٔ دي
"مست تقدیر د ګناهونو، شیخ تدبیر دی بې هنره"

خیال د سترګو، خوند د شونډو، حال د نزعې بخت را پېښ سو
څومره مست تېر سوې ژوندونه! څومره خوږ را غلې سفره!

کوم تتکي حُسن "خط" را وړ، چې د زړهٔ خلوت دې تور سو
بیا د کوم طالب له جوره، ملا ګرځې دربدره

جون – ۱۹۹۲
واشنګټن ډي، سي

○

یاره! زړهٔ خو مي تنګ نهٔ دی، راځه تهٔ پکي ځائيږې
خيال او ميني ته ورپوري، خولهٔ په خولهٔ پکي ځائيږې

کرامت د عشق ته ګوره، په دې يو موټی زړګي کي
هم او وهٔ آسمانه غم دی، او هم تهٔ، پکي ځائيږې

آرزو! دا ښايسته کميس چي، تاته "ژوند" لالا جوړ کړی
په اوږدهٔ ښکاري لنډ وکی، په برهٔ نهٔ پکي ځائيږې

خېژه غير علاقې ته، پټ د څښو تور ځنګل ته
ښار د سترګو ګولۍ ښکاري، ژونده! نه پکې ځائيږې

يو درياب د ظلمتونو، بل د نور آسماني څاڅکی
نه يې ستا غېږه لايقه، او نه ته پکې ځائيږې

د نواب ساندا خونه يې، چې قُلبې غوارې د مځکو
دغه دوه ګزه په درې کې، ملا! ښه پکې ځائيږې

۲۰۰۶ء واشنګټن ډي، سي

○

د وهمونو تال ته ناست يم، هېر يادونه زنګومه
شپې تياره دي لړه راکړه، د خيال سترګي تورومه

راغی راغی خان د حُسن، د ګلاب پر پاڼو باندي
اورئ اورئ اوښکو اورئ، د پښو ګرزيې پاکومه

د ځوانی ګل مي ورک سوی، ژونده! ستا وختونه غلهٔ دي
مرګه! دومره مهلت راکړه، د خزان لاس بويَومه

د جنون رېګستان تولـه، سجده رېز د ارمانونو
جانان تللی په دې لارو، هر قدم يې ښکلومه

ساقي زما برخي را دوې کړه، مستي نۀ ده مجبوري ده
زړۀ کي ناست بت مي مینوش سو، هغه هم نن اوبو مه

چي دا ستا ظالم خاطريې په ليدو پرېشانه نۀ سي
د نــامرادو ارمــان څلــی، نــن پښــپـل لاس نړومــه

يېګا "حُسن" او "مستی" دواړو، په "جنون" توبه کړه ذبحه
"افسون" دِغ کړه ويني زما ده، زه معبد په رنګومه

جون - ۱۹۹۲
واشنګټن، ډي، سي

✡ ✡ ✡

○

تښته! ځان ساته زاهده!، چې د جام او شونډو جنګ سو
د توبې کلی دې وران سو، د ثواب بازار دې ړنګ سو

دا د خُم د زړګي جوش دی؟ که هنر د میفروش دی؟
چې مستان غرونو ته خیژي، چې جهان وریاندې تنګ سو

د ګمراه عقل زندان یې، له هیبته لوټي لوټي
دا د کوم بدمسته هَل دی؟ دا د څنګه ځنځیر شرنګ سو؟

چې د زلفو په زندې یې، نړول د تقوی غرونه
نن یې شړنډي هم ترخې سوې، نن یې پاک د توری زنګ سو

د ناپوه واعظ عِتاب ؤ، چي مستي مو بدمستي سوه
د رباب د غوږ له تاوه، پورته څه جانسوزه ترنګ سو

په اسره يې ګُتهای نسې، ملاجانه! حساب مهٔ کړه
ستاد "عقل باچا" خام دی، زما جنون "غلام د رنګ" سو

پس له مرګه مي يارانو دا دوه توري، سر ته ليکئ:
"نذرانه د مغرور حُسن، که قربان د عشق په ننګ سو؟"

۱۹۹۷- واشنګټن ډي، سي

✡ ✡ ✡

○

دا بڼوچې خنجر کښلی، ساقي تا يې سترګي سرې کړې
تنکی حُسن قاتل نهٔ دی، عشقه! تا چړې تېرې کړې

د قضا د مسند مشره! په نومونو دوکه نهٔ سې
مرګ اووه رباطه ليرې، ژوند زما غاړې را پرې کړی

زه "کابل" وم د خيالونو، ته "فرنګ" د هوسونو
تا را وران کړل محلونه، مادر جوړې هديرې کړې

د "پنجاب" زهريله خره، د "اټک" ترستوني راغله
ساده خانه! لا لګيا يې، د بچاؤ! بچاؤ! نارې کړې

دا عذاب د کوم تقصیر دی؟ که وچ جبر د تقدیر دی؟
ژوند خولا روه ور که کړې، مرګ هم هیرې زموږ کوڅې کړې

سپین کالیو جلوس جوړ کړ، چې ادې د حُسن سوځو
شهیه! ستا پر کور چې راغله، هغو هم جنډې کږې کړې

د کتلو فتنه څاری، ښایست هسې یو ګپ شپ دی
د ملا کتابې سترګې، یو کورې طالب رندې کړې

۲۰۰۷–واشنګټن ډي، سي

⚝ ⚝ ⚝

○

درنوي د خط(!) نازونه، په نیازونو باري لیکي
چي کاتب سوالګر د رنګ وي، څهٔ به وکي خواري لیکي

اثري کتو یې کربښي، له زمین او زمان تاو کړې
سحر خاندي: عقل ګوره، سودايي سو، شماري لیکي

خانه! پام څي مخ په پورته، د بښو د شهید ویني
هر غروب په تندي باندي ستا د تورو واري لیکي

په جنون د کفر حکم، انتقام له قضا اخلي
توري تور د عشق په تور سوه، په دېوان کي ژاړي لیکلي

د رنګ ریز د سترګو رنګ دی، د صنم پیکر په رنګ دی
شیخ کتاب د تصویر واخست، و مجاز ته څاري لیکي

خیال یې لاس په زلفو کښیووست، بخت فالونه پکې ګوري
اوږده شپه تیاره ځنګل دی، ګډې وډې لارې لیکي

دا سفر قلندري دی، په اسره د عقل نهٔ سي
چې هر څو سترګې پرانیزې، لا ورکېږې لارې لیکي

د جمال په مدرسه کې، د تنکی حُسن نارې سوې
ملا تورو لیونی کړ، له نو خطو غوارې لیکي

مارچ- ۱۹۸٦
میامي- فلوریډا

✡ ✡ ✡

○

که شپې لار لیدای د زلفو، راختلی به لمر نهٔ وای
که بې سوزه سازېدلای، دا دلسوز به دلبر نهٔ وای

که ګلان د مینې نهٔ وای، د ښارګ د وینو تږي
کربلا ! ستا په لمن کي، چا پرې کړی به سر نهٔ وای

که ښامار د ظلم مخه، اړولای و خپل غارته
معافي به ؤ کار کړی، د دې خیر که شر نهٔ وای

آدم زاد کـه د خپـل عقـل، قـدر خپلـه پیژنـدلای
دا ناپوهـه دا سـر زوره، بـد کـرداره بـه خـر نـهٔ وای

ژونده ! ستا اغزنه شپه به، ما په يو آه وه سوځلې
که يې ګل مخ ته سپر نهٔ وای، که اُميد د سحر نهٔ وای

که شوم نيت د لالا (!) نهٔ وای، که مي کور کي بلا (!) نهٔ وای
**خانه** ! ستا ځنګ ته به ناست وای، زهٔ به خوار په سفر نهٔ وای

۲۰۱۴ – واشنګتن دي، سي

☆ ☆ ☆

○

د خوښۍ جام مي نسکوره، له آسمانه را ايله سو
غم د ژوند بدي په غاړه، پر پښتون کور مي مېلمه سو

چي مظهر مي د سجدې ؤ، چي قاتل مي د توبې ؤ
ها محراب سو لوټې، لوټې، هغه بُت ذره ذره سو

د رنګين خاطر شباب ؤ، وخته ستا مغولو لوټ کړ
ته به وايې جوړ کابل ؤ په بمونو ويرانه سو

یاران وایي بهار رنګ دی، دا خو سم د تورو جنګ دی
د غوټۍ لړمون سو څیري، ګل په وینو کي غوټه سو

اجابت د دعا ګوره، د شهید ارمان مزار ته
ما لا شَم بَل کړی نهٔ وُ، ژوندون ټول لمبه لمبه سو

نن سحر قاتلان راغله، بیګانۍ د یوې یې مړې کړې
ښهٔ چي ژر دي ځان لمبه کړ، پروانې! مرګ دي پرده سو

۱۹۹۷ – واشنګټن دي، سي

✡ ✡ ✡

○

چي په مينه څوک مين سي، نهٔ بېلتون سته نهٔ وصال
چي دا ځان له ځانه و وزي، بيا نهٔ غم سته نهٔ جنجال

که دي سترګي سي حَسيني، حُسن ستا د در غلام
دا خو ستا د سترګو رنګ دی، دا ښايست او دا جمال

وختـه! ستا قصه ده مفتـه، زهٔ د بخت منت ګزار
که يار وينې راسره ناست وي، رب دي توره شپه کړي کال

مسلسله خودکشي ده، هر مقتول قاتل د ځان
ګل په خپلو وينو ډوب سي، لمبه سوځي خپل مشال

تلۀ راتلۀ دي تېرېدۀ دي، مرګ او ژوند غاړه غړې
هره شپه د ورځې لور ده، هر زوال زوی د کمال

طالب بند کړي له کتابه، ستا د تورو څڅو جال
له ملا نه ټکي هېر کړي، ستا د ورځو د مينځ خال

۲۰۱۴- واشنګټن ډي، سي

○

زما خاطر د اغزو کښت سو، ګله! ستا ښایست مې هېر سو
وفا غرۀ تـه کـړه وکـړه، د جفـا آزار چې ډېـر سـو

"شاه خانمي" هجره راوړه، تخت جاګیر سو د نامردو
پـه زمرو وبـا سـوه ګـډه، موږک برېتی ببر شېر سـو

بدنصیب شو ګیره بخته، کوم زیارت ته ویدۀ پروت یې؟
ګران راغلی ۇ پر کلي، ستا د کور و څنګ ته تېر سو

لویي یو رّب سي زغملی، بل هر جګ څلی نړېږي
مغرور حُسنه! یتیم ګرځه، عشق له خپله هوډه تېر سو

د لستوني ماره! تود سوې، سر دې ویوست له ګرېوانه
په سوګند ګواهي نهٔ سي، لالا(!) شوم نیت دې برسېر سو

۲۰۱۴ــ واشنګټن ډي، سي

✡ ✡ ✡

○

څهٔ چپه باد را الوتی، ژوند له خپله ژونده تنګ سو
غیرت ویلي سو له شرمه، دووس ستر سو دله دنګ سو

خر، قاضي، لېوه، چوپان سو، مېږه مږ سو هجړه خان سو
پادري وخوت و منبر ته، خانزاده(!) زوی د فرنګ سو

څه بدبخته تراژیدي ده، د دوستانو دښمني ده
لاس مي مات له خپله لاسه، سر پردیو ته قلنګ سو

ما حساب دی غلط کړی، که خَو کړی دی یارانو؟
دلاس تول پاخهٔ او مهٔ سوه "بدرنګي" د میدان "رنګ" سو

هر يو ځان د ځان دښمن دی، دلته غير او اغيار نسته
شم په خپله لمبه سو ځي، ګل په خپلو وينو رنګ سو

يو جابر سلطان د حُسن، بل سرتېر فقير د ميني
خوار مېږيه عقله تښته!، د فيلانو زله جنګ سو

ميکده ماتم کده سوه، له همسا جوره ډنډه سوه
خُم چپه ساقي سر ماتی، زهريله بوتی د بنګ سو

ګام په ځکه نتوزي، ساه زړه سوه نېغه نهٔ ځي
سيخه لار د يار د کلي، جوړ پيچومی د سالنګ سو

۲۰۱۴– واشنګټن ډي، سي

○

ای د بخت او وخت واکداره! را مېله د جانان خیال کړه
د اوږدو زلفو قصه ده، شپه اوږده لکه د کال کړه

سخت خمار خو توبه ګاریم، زړهٔ نازړهٔ پیالې ته ګورم
لږ یې وڅکه په مالګینو، د احرام راته حلال کړه

بېوسي ده خو یاري ده، تهٔ غم مهٔ کوه ملنګي!
زما د زړهٔ وینه نکریځې، زما د سترګو تور دې خال کړه

ستا د یاد شوګیر وهلی، زنګوي رنګین خوبونه
اې لمرمخې د رنګ خانه! آسمان جوړ د بوډۍ ټال کړه

فرنګي پرېږدئ چي غري، په بمونو نهٔ ختمېږو
سامري ډالر تباه کړو، غازي! ډز په دې (!) دجال کړه

د انکار تر ترخه ستوغه، دروغجنه وعده ښه ده
دا منم زما به نهٔ سې، خو لږ ګپه د وصال کړه

نهٔ تېرېږې نهٔ جنګېږې، ګله! څهٔ ګنده بازي ده
په اسره يې ګټای نهٔ سې، چل ول پرېږده سيده چال کړه

سوځوې مي، سازوې مي، ژړوې مي، خندوې مي
زهٔ به يار که به اغيار يم، ما خبر زما په حال کړه

۲۰۱۴- واشنګټن ډي، سي

○

څهٔ د غم اغزي يې شنهٔ کړهٔ، د باروتو بارانونو
څهٔ خود ګش غضب يې ويښ کړ، د بمونو آوازونو

زموږ سل مري د دهٔ يو مري، فرنګي تېغ بندي کړې
زورور اثـر يـې وکـړ، شـکرانو د ډالرونـو

نـهٔ رڼـا سـمه ور رسـي، نـهٔ هـوا پکـي چلـېږي
دا کـلا د روايـاتو، بنيـاد کـوږ د دېوالونـو

پیرتې ورو و خپل وطن ته، رسوو خاوره تر خاورې
امانــت مــو دې سـپارلې، جنــازې د ارمــانونو

هــدیره د غلــو د کلــي، پــه هیچـا اعتبـار نسته
گرځــوي مــړي پــه غــاړه، کتیبــې د مزارونــو

د خدای روی دی ملا چپ که! په رویې ترورې تورسوې
له درانهٔ ږغه دې چاک سوې، منارې د جماتونو

۲۰۰۹- کوټه

○

مرګه! جار دي تر پنجو سم۔ د جانان په لور مي بيايي
خو دا سترګي کړه لږ نرمي، د ارمان په لور مي بيايي

له دې توري تنګي ځمکي، د اغزن اغزن ما ښام نه
د وريښمين سحر په غيږ کي، د آسمان په لور مي بيايي

دا اوږدهٔ درانهٔ کلونه، د زندان دوږخي کندي
تا د باد وزري راوړې، د رضوان په لور مي بيايي

ژونده درې کاڼي طلاق دی، که بيا سترګي در ښکاره کړم
زهٔ د مرګ سترګو اخستی، د رُمان په لور مي بيايي

د دوږخ دوږخ نفـرت نـه، څـم د مينـي و جنـت تـه
د رحمت فرشتې ناځي، د رَحمّان په لور مي ييايي

ژونده! خوږ فريب دي اخله!، د وسواس دا اوږده تبه
د مرګ تريخ حقيقت راغی، د ايمان په لور مي ييايي

اې پردېس! بېکس ماښامه، نن مي کلی په زړهٔ اوري
داسي ښکاري مرګ را رسي، د خپل خان په لور مي ييايي

۲۰۱۴- واشنګټن دي، سي

○

زړه چاودون ته رسېدلی، لړي لړي د يار خياله
د خودکشي حملې وار دی، د رقيب په سپېره ځاله

رحم څه وي؟ بدله اخلم، فرنګی مو پوروړی
د بودۍ توره ټيکريه! د شهي زرغونه شاله!

د خنزير دالر په وازګه، غوړوي بېره ناپاکه
رب دي غرق کړه سامريه! له خرۀ ولولېږي دجاله

شپه تېرېږي، ډاکو تښتي، سنګر مه پرېږدئ يارانو
ژر به لمر تندی ښکاره کړي، د کندو غرهٔ له ديواله

بخته! جوړ "افغانستان" سوې، د غم کاڼي په دراوري
له مشرقه له مغربه، له جنوبه له شماله

دا منم زلفې تړل کا، دا منم سترګې ويشتل کا
خو ته سيخ په زړګي لګې، اې د شونډو د کونج خاله!

۲۰۰۹- کوټه

○

ټوله شپه یې په خوب وینم، چې راویښ سم خوب مې هېر وي
ټوله ورځ یې پل څارمه، یا راغلی نهٔ یا تېر وي

دا څهٔ سترې ده را پېښه، د سایو سره ګذران سو
یا په سیورې مې غېږه که، یا ښکالو رانه چاپېر وي

وخت باچا شاتته روان دی، ژوند مجبور اسیر غلام دی
زه یم ناست تکم کلونه، ښادي پاو خیژي غم سېر وي

خپله خاوره مور چې نهٔ وي، د بل فرش د ګلو څهٔ کړم
د میرې بالښت اغزنه! خوب دې نسته، بس شپه تېر وي

تنکی حُسن چې لوئیږي، د دیدن تنده ګرمیږي
سبا وون لمر ته کاته سي، غرمه نهٔ سي، تاو یې دېږوي

د تن سر خو د بل سر دی، ورکول یې دي آسانه
تل ژوندی شهید هغه وي چې د ځان(!) له سره تېروي

"جنت غرَب" صوفي ته وایه: لږ حیا د رّب له ستر ګو
حوري غواړې بې شماره، خو ذکرونه دي په شمېروي

ځواني ولاړه شهی راغله، اوس به څه ګلان کرمه
چې نصیب یې مستي نهٔ وي، وخت او بخت یې تېروېږوي

۲۰۱۴- واشنګټن ډي، سي

○

باغ او یار، څواني او مینه، خوږ ستار، ترخه جامونه
دا په ګلو کي ګلونه، په خوندونو کي خوندونه

د جانان په رنګي خوږ وي، د ارمان په شانتي لنډ سي
د ژړي مازيګر وصل، د سحر درانهٔ خوبونه

هومره سوز د آدم خولهٔ کي، څومره اوريږ دی په زړهٔ کي
دا په اور پیخ سوي خټه، که په خټه کي اورونه؟

په کوم جرم اسير سوی، زما ازل ستا په ابد کي
دا د ميني بغاوت ؤ؟، که د عقل ځنځيرونه؟

چي قطره زرهٔ کي يې ځای کړ، اباسين درياب د ميني
د هغو نظر ته ښکته، د آسمان د غرو سرونه

مينه حق ده او حق راز دی، په سوزونو کي پټ ساز دی
منصور ځکه سنګ باران سو، چي ويل يې پټ رازونه

قلندر له ښاره ووت، د "خودی" کچکول په غاړه:
"څومره لوی سوې زما وجوده؟ څومره تنګ سوه دا ښارونه"

جنون حُسن ته پټ و وې: زړه کې نسته د ګل مينه
د دې قوم خواري عبث ده، بې قبلې همه لمنځونه

د "مستی تروري" زوی سوې، له درانهٔ دړغه يې ساتو
مُلا بَر کلی ته مخ کړه، هلته ويشي اسخاتونه

جون– ۱۹۹۲
واشنګټن دی، سي

څنګه د رسم ستا د رشل ته، له چا وپوښتم ستا حال؟
زه ذره د يو ذرې، ته جلال د ټول جلال

داسې ښکارې چې مين سوم، زهٔ او زما او ښکې دليل
داسې ښکارې چې بل نسته، تهٔ او ستا حُسن مثال

شاه باز پرې کړله تارونه، ساز لمبه کړلې پردې
د اووم آسمان "راګنې" سوې، سور مې نهٔ نيسې ستا تال

رّب جانان حُسن مې خان دى، زهٔ د مينې "وجودې"
د وحدة، کثرت دا لوبه! د ماشوم د بوډى تال

ما له ځانه سره یوسي، د مازګرد وړانګو لِهر
تا له ځانه سره راوړي، د سَحر مهین شمال

د کعبې په بام ویدهٔ دی، او ږد کمیسی ابوجهل
له دهشتې امام ګونګ سو، اذان هېر دی د بلال

بدلوي د کتاب توري، ړندوي د ایمان سترګي
که یهود دی که سعود دی، که ډالر دی که ریال

۲۰۱۴ – واشنګتن ډي، سي

○

غم د میني ډوب کړمه، اوښکي مي دریاب، دریاب
حُسن سو د اور څپې، هر څهٔ مي کباب، کباب

غرونه، غرونه تنده زما، ګام له ګامه منډه ستا
زما نظر جلرېز سَراب، ستا کاتهٔ شراب، شراب

هر سړی په دې خبر، تږول ستوري پدې ګواه
زما وعده د "کاڼي خط" ستا پلمې کتاب، کتاب

آه! څـه سـتړې لوبـه ده، ویـره لـه آشـوبه ده
زهٔ او زهٔ جولۍ د نیاز، ته او تـه عِتـاب، عِتـاب

راج د حُسن ستا سِکه، واج د میني زما اسره
زهٔ سومه سوالګر اُمید، ته سوې بس جواب، جواب

۲۰۱۵-کوټه

☆ ☆ ☆

○

مستي د حُسن پيمانه د مينې
راج د حَسينو نذرانه د مينې

ازل چې وا خسته وعده د وفا
ابد ته ولاړه هنګامه د مينې

زه يې د زلفو شپې اخستى ومه
بڼو يې لوټ کړه خزانه د مينې

د ديدن غلا ته مې دى چل جوړ کړى
دا ملنګي مې بهانه د مينې

تنده چې تېره سوه تر "تورو اوبو"
شونډو يې راوړله پياله د مينې

مرګيه! غلی سه اوزګار نهٔ يمه
لږ جوړوم دا خرابه د مينې

لېونی بند سو په ځنځير د عقل
خيال يې روان دی زولانه د مينې

مئ- ۲۰۰۸
واشنګټن ډي، سي

✡ ✡ ✡

# د وخت ضَرب!!!

د وخت ضرب دی، د ژوند تال دی
سوز د حال دی، شور د قال دی
د جنون ورکه قصه ده
د ګونګی مینې غصه ده

د زاهـد سـره جګـړه، د سـاقي سـره خبـره
د ښایسته وو سره روغه، یو خوږه د ناز ګیله ده
دا د حُسن د خان ننګ دی، د جابرو تورو جنګ دی
ځې په پورته مخ په بَره، د "لا، لا" د فوج حمله ده
دا د ځان(!) د بت و پښو ته، د اور پړی دی اره ده
دا مغرور سر د نمرود ته، د خلیل د مَټ تېشه ده

وخت؟
وخت روان باچا د رنگ دی، وخت د هوش هېره لحظه ده
وخت حسرت د تېر پرون دی، وخت سبا ته تلوسه ده
ضرب؟
ضرب د زړهٔ د ويني جوش دی، ضرب د ژوند د روح نغمه ده
ضرب تتا ده ضرب ښکلا ده، ضرب رباب دی ضرب دوکړه ده

وخت ښايست زما د شهې دی، ضرب يې خال، بانه ضربه ده
وخت د روند غر د کوه طور دی، ضرب جلوه د اور لمبه ده
وخت باچا دی ضرب حمله ده، وخت دريا دی ضرب څپه ده
وخت دولت دی ضرب سِکه ده، وخت شاعر دی ضرب مصره ده
سوز د حال دی شور د قال دی
"د وخت ضرب" دی د ژوند تال دی
دا د تورو ساحري ده، و جانان ته نذرانه ده
ښاريه وهي د عقل، د "ملا" د خيال دُرّه ده
د ګونګې ميني غصه ده
د جنون ورکه قصه ده

۱۵-۲-۱۹۹۷-
واشنګټن ډي، سي

## د ځان (!) خوب....

په اسرو مي لنډوله
په تسپو مي ګزوله
جانه! ستا د کلي لاره
اوږدېدله، اوږدېدله

---

د ګناه د نالې ښنګ ته
د توبې کلا وه جوړه
د اُمې ختې پَخسه وه
نړېدله، نړېدله

---

د نامردو ښاريه وه
د هجره حاکم قبضه وه
د امید تنګه کوڅه وه
بندېدله، بندېدله

---

د لوېدلي دېوال خواته
د سپېرو خاورو په غېږ کي
هیله ناسته وه سر تورې
ژړېدله، ژړېدله

---

د سرۀ اور څپاند سیندونه
د کنګلو پرښو غرونه
کله مخ ته بهېدله
کله شاته درېدله

---

د اغزن ځنګلۀ کږه لار
د تروږمۍ تیارۀ درنه شپه
د بېړو آوازونه
د بلاوو اتڼونه
یېري مرګ تر لاس نیولی
رپېدله، رپېدله
د مجهول ظلمت کوهي ته
لېږدېدله، لېږدېدله

---

د کوهي په ژور تل کي
د برېښنا شاني شغله وه
د رڼو اوبو چينه وه
يو پري هلته دېره وه
په دوو سترګو کې حيا وه
په خندا کي يې نغمه وه
د سپوږمۍ مخ په رڼا يې
تور کوهی د لمر کوڅه وه
د مشکينو زلفو عطر
را اره کړ د زړهٔ صبر
ماوې: "څنګه غېږ ته د رسم،
وايه څنګه دي دلبر سم؟"

---

وې: "د ځان(!) جامې له ځانه
ليري، ليري کړه زما جانه"!
دا ستا ځان د شهوت وږی
دا ستا ځان د شهرت تږی

---

د ریا لړم وهلی
د حِرَص ښامار څټلی
د عزت ذلت تټلی
د اسرو وَینو خوړلی
د ځان مینه ستا معبود دی
د ځان غم دي تار او پود دی
د ځان ښوښه دي قبله ده
د ځان بَت ته دي سجده ده

---

که ځان (!) لیري کړې له ځانه
زما د غیږې جنت ستا دی
ټول سرور تمامه مینه
زما د شونډو شربت ستا دی

---

که نهٔ، ورک به یې تیارو کي
تل به ستړی یې د لارو
وبه نهٔ رسې منزل ته
څو "ځان" ورنکړې و بل ته

---

لاره ستړې ځان هوسا کړه
د ژوند ورکه دې پیدا کړه
سترګې پورته کړه آسمان ته
زړه ډالۍ کړه و "جانان"(!) ته

---

وخت ولاړ لحظه ویده وه
د خوږو شونډو نغمه وه
په غوږو مې، په رګو مې
اورېدله، اورېدله
"خانه! ستا د کلي لاره!
لنډېدله! لنډېدله!"

۲۰۱۵-کوټه

# خاپې د يو( ! ) پلۀ وبنم...

هر څوک په سترګو شی ويني
يو ځان(!) ويني بل دی(!) ويني
يو ورځ ويني او شپه ويني
بل نور دیني تيارۀ ويني
يو جام او صُراحي ويني
بل سرې سترګي ساقي ويني
يو حُسن د دلبر ويني
بل مينه د خپل سر ويني
يو ږيره او تسپې ويني
بل پټ راز د سجدې ويني
يو مکر د شيطان ويني
بل مينه د رحمٰن ويني

يو توري ويني جنګ ويني
بل فوج ويني او تنګ ويني
يو مست د ايمان جوش "حُسين"
حَسينه کربلا ويني
بل خوار په ځان مين جنون
"يزيد" توره بلا ويني
يو خوږ خوب کابل جان ويني
بل تريخ ژوند پاکستان ويني

---

يو عشق ويني وفا ويني
مجنون ويني ليلا ويني
بل حال ګوري سرور ګوري
جلوه او "کوه طور" ګوري
يو دار ويني "منصور" ويني
عاشق د عشق مجبور ويني
بل هجر او وصال ويني
د يار د زلفو تال ويني

یو جبر د تقدیر ویني
بل تول د ځان تقصیر ویني

---

هر څوک په سترګو شی ویني
یو ځان ویني بل دی ویني
څوک بد ویني څوک ښهٔ ویني
هغه چي وي هغه ویني

---

یو زه ځانته حیران ولاړ
بې ځان او بې جهان ولاړ
زخمي، زخمي ستومان، ستومان
یو وچ ګل د خزان ولاړ
ولاړ رهي روان ولاړ
بې ځان او بې جهان ولاړ
نهٔ څهٔ کوم نهٔ څهٔ وینم
نهٔ ځان او نهٔ هغه وینم
نهٔ بد کوم نهٔ ښهٔ وینم

روان خو لاره نه وینم
بس "خاپی د یو پله وینم"(!)
"پاس جبر د سلطان(!) وینم
او ښکته زور د **خان** وینم،
د ژوند کوڅه اغزي، اغزي
او څنګ ته مرګ روان وینم"

۲۰۱۴ - واشنګټن ډي، سي

# هُنر...

دا مستي خو مستي نهٔ ده، دا جنون د شرابونو،
دا حسرت د ارمانونو
زما مستي هغه مستي ده، چي د هَل رندانه چغه
يو هَى هَى، هَلا هَلا سي:
د آسمان په مځکه پورته، اتڼ واچوي د ستورو
زُهره جام په لاس راپاڅي، سپوږمۍ لمر په غېږکي ناڅي
فرشتې له واکه و وزي، په ملا غبرګي له خندا سي
او راګډي په ګډا سي
هستي ټول سُر د مستۍ سي، ملکوت تال د خمار سي
اغزي بېل سي له ګلونو، د خزان د سترګو خار سي
لحظې ټوله موج د رنګ سي، کوڅې ټول بهار بهار سي

دا خو مينه، مينه نهٔ ده دا غضب د شهوتونو،
دا هـــوس د ګنـــاهونو
مينه هغه مينه بوله، چې په "مينه" څوک شيدا سي
معشوق پټ وي ځان(!) فنا سي:

بس د مينې سره مينه، يو سرور يوه سودا سي
جانان وي صورت يې نهٔ وي، تفسير وي آيت يې نهٔ وي
ښايست وي خو ليدهٔ نهٔ سي، سيوری وي خو نيوه نهٔ سي
مينـه ناسـته وي پـه زړهٔ کـي
مينه تنده وي د ورکي، ځي چې ورک دلبر پيدا کړي
مينه واک د زمان آپل کړي، هرپرون سبا، سبا کړي
د ارمان خونړی کندي، په اميد رڼا، رڼا کړي

---

دا هنر خو هنر نهٔ دی، د څو تورو ساحري دهٔ،
يهيمونـه(!) شـاعري ده
د شګلني ښرې کلمه، دا خاني نهٔ ده خواري دهٔ،
يـو بـې تويـه پـاچهي ده

تل ژوندی هنر هغه وي، چې دا ځان او جهان هېر کړي
لامکان ته لاره سيخ کړي، دغه رنګ او نومان هېر کړي

د بيان له بقله و وزي، د عيان افسانې پرېږدي
د "دهٔ، دهٔ" سندره سر کړي، د "ځان، ځان" ترانې پرېږدي
بس بېرنګه يو احساس وي، له تقليده بېګانه سي
د نامهٔ آبادي پرېږدي، پټ آباده ويرانه سي
د خپل ځان په غوښه موړ وي، د خپل "خان" سره دېره سي
تل وفا، وفا، وفا وي، تل توبه، توبه، توبه سي
دا هنر د سحر پرخه، د ازل د کاتب کرښه
پټ، له پاسه، په زړهٔ اوري، د ګونګې مينې سپين توري
بې پروا وي ستا له توله، بې پروا وي زما له نرخه
بس را اوري، اوري، اوري، بې اختياره مهين توري
د ګونګې مينې سپين توري
د آسمان د تندي پرخه
د ازل د کاتب کرښه

۱۹۹۲-۲۰۱۴
واشنګټن دي، سي

## هَل...

رنګ د ګل غزل غواړي
ژبه د بلبل نسته
لمر د تندي وسومه
توره شپه کا ګل نسته

---

سرې شونډې شکرې سته
ښې د ناز خبرې سته
باغ ځګر د حورې سته
سترګې سته کتل نسته

---

لوی جهان د ګلو سته
ډک خمان د مګو سته
څنګه چاته وخاندم
زما جانان کابل (!) نسته

---

توري سته او زغري سته
ګوابښ سته او ډغري سته
موټي سته، ککري سته
یو جانباز اتَل نسته

---

ږیري سته، لمني سته
ذکر سته بلني سته
ږغ آسمان ته نه رسي
زور د دُعا "هَل"(!) نسته

---

لمونځ هم سته آذان هم سته
توري سته بيان هم سته
کښت د ايمان تږی دی
پټ د شپې ژړل نسته

علم سته فکرونه سته
ليکي سته شعرونه سته
ذوق يتيم يسير ګرځي
يو خيالي غزل نسته

کور هم سته، کالي هم سته
دال او چپاتي (!) هم سته
ژوند د زهرو خوند کوي
بل وطن دی خپل نسته

لمر روان، سپوږمۍ ګرځي
اوښ روان کېږدۍ ګرځي
خو زما "پښتون" ولاړ
یو قدم یې تلل نسته

---

غم که سته ښادي هم سته
زور که سته سیالي هم سته
ستا جهان رهي ودان
هر څه سته یو تل(!) نسته

---

"زه یم د خپل ځان مـلا
تـه یې د خانانو خان
زما په رنګي صد هزار
ستا په شاني بل نسته"

۲۰۰۵ - واشنګټن دي، سي

## تهوله "نهٔ!" یې...

دا تـهٔ څـوک یـې؟ دا زهٔ څـهٔ یـم؟
چې "تـهٔ" زهٔ یـې؟ کـه "زهٔ" تـهٔ یم؟
نـهٔ دي پیـژنم چـې څـهٔ یـې؟
دومره پوهه یم چې تهٔ یې!
تـهٔ یـې تـهٔ یـې، تهولـه تـهٔ یـې
تهولـه تـهٔ یـې، تهولـه تـهٔ یـې

---

په هر ځای او په هر وخت کې
په هر رنګ کې راسره یې
تهٔ زما د مرګي لیاره
تهٔ زما د ژوند اسره یې

---

تهٔ زما د طلب منړه
چي تهٔ نهٔ يې نو زهٔ نهٔ يم
تهٔ زما د ميني تنده
چي تهٔ ښهٔ يې نو زهٔ ښهٔ يم

---

تهٔ د نيمي شپې ژړا يې
تهٔ د جام نشه خندا يې
قبله سوې له الستهٔ
د مظلوم کافر دُعا يې

---

له نشه ختې جوړ سوی
د جمال د جنت حور يې
د ګونګې ميني ادا يې
د دلکشه نغمې سُر يې

---

د "لا،لا" د تورو واری
د زخمونو الاّهو يې
په توپان د سمندر کي
تهٔ زما، نارې ته "جو!" يې

---

تهٔ زما د گناه حسن
تهٔ زما د ثواب ننگ يې
تهٔ د هيلي وروستی فال يې
د قسمت د ليکي رنگ يې
تهٔ د ورځو د منځ خال يې
تهٔ د غبرگو تورو جنگ يې

---

تهٔ زما د سفر پوله
تهٔ د سترې خيال خوله يې
تهٔ زما د ځگر خونه
د ناترس توپان څپه يې

تـهٔ يـې تـهٔ يـې، تولـه تـهٔ يـې
تولـه تـهٔ يـې، تولـه تـهٔ يـې

---

تهٔ زما معصوم کاتهٔ یې
د توبې په سَحر باندې
تهٔ زما بد مست نظر یې
د ښایست په پیکر باندې

---

د زمان لنډو کې شپه کې
ناتمامه فسانه یې
د مکان په ښایسته غولی
نخښېدلی جام نشه یې

---

کله موج د خندا خپور کړې
غم نشه کړې تهٔ نخښېږې
کله جوړ د غمو ښار سې
په مجبورو را نړېږې

---

کله سازه کړي سندره
اُمیدونه درته ناځي
کله وسوځې تارونه
سره اورونه درنه څاځي
کله ټوله خلوص مینه
جنت کلی د مستانو
کله ټول حساب کتاب سې
دوږخ کورسي د شیخانو
کله مینه کله وینه
د رنګونو پیمانه یې
رّب د میني خان د حُسن
د جنت د باد څپه یې
د عشقونو قبرستان یې
د ګلونو خزانه یې

هېرېدونکی شانتي خوب يې
تېرېدونکې افسانه يې
بې تعبيره ګونګه ژبه
يو مرموزه ترانه يې:

---

"نـهٔ دي پېژنم چي څـهٔ يـې
هـومره پـوه يمـه چي تـهٔ يـې
تـهٔ يـې، تـهٔ يـې، ټولـه تـهٔ يـې
ټولـه تـهٔ يـې، ټولـه تـهٔ يـې"

نوامبر– ۱۹۸۵
کوټه

☆ ☆ ☆

## مُعجزې...

په خولهٔ قول د یارۍ دی
په زړهٔ نوري اندېښنې دي
دلته ساز د یکرنګۍ دی
هلته رنګ په رنګ پردې دي

---

د وحدت خیالي محل کي
د حیرت آئینه سوه ماته
د کثرت د ځنځیر شرنګ دی
جوړي کړي یې نغمې دي

---

د خودۍ په مَی مدهوشه
اِمامان آئینه فروشه
په دې ښار کي فتنه لنګه
محرابونه بتکدې دي

---

د توفیق په سجده پروته
اې زاهده! ځان پرسته
د تقدیر لاس ته سلام که
هلته پټې کرشمې دي

---

د رنګونو بهیر درومي
په رنګ ټول یو ناخبره
د رنګرېز د خُم په خوا کې
ښخې سوې "رنګ مُهرې" دي

---

د بې نیازه جانان نرخ دی
د وصال بیه ده ګرانه
په اُمید د یو دیدن یې
ډکې سوې هدیرې دي

---

په څه رنګ به ځان در خپل کړم
کوم قدم به دي زۀ ښکل کړم
ستا جلوه د برېښنا منډه
زما په پښو کي زولنې دي

دا جلال د کومي میني؟
دا کمال د کوم نظر دی؟
د رویبار هم تن خوله سو
د جانان هم سترګي سرې دي

د هستۍ خیالي رباب دی، د نیستۍ شهباز پر ناڅي
د "لا، لا" اعجازي ترنګ دی، "الاالله" یې معجزې دي

اکتوبر– ۱۹۸۳
چارسده

❀ ❀ ❀

## يو سوال نه يو جواب ...

دا مرګ دی چې را درومي، او که ژوند رهي روان؟
بې تا له شان سورلي ده او بې تو له پهلوان
دا خان اسپي اخستی، که آس ملونی دی د خان؟
دی وخېږي وغرۀ ته،
دی ډوب سي په اوبو کي
دی ستوری سي د لاري،
دی ورک سي په تېرو کي

---

يا سر په بنهر يووي
سودا کوي د غرونو
يا وتی وي سارا ته
په خيال د محلونو

---

یا سیخ سي د غم بارته
یا تښتي له نازونو
یا ټینګ د ټورو وارته
یا داري له خوبونو
سر زوره مست د میني، که مین د ارمانو؟
تي بولي د ګل خواته، دی روان مخ په اغزو
ته وا پوی نه دی په ګای، د حیوان بچی حیوان

دی لوند سو په شرابو
دی سوی په توبو دی
رهي و هندوبارته
مکي ته په سجدو دی
یا قهر د مغل سي
یا لوظ د پښتو دی

دی ګرځـي پـر ګلونـو،
دی پـروت پـه ګنـډېرو کـي
دی خـوږ سـي تـر شـکرو،
دی تریخ سي پـه ترخو کـي
یـا مینـه او جانـان سـي،
یـا تـور د نفرتونـو
یا پاک شهید ارمان سي،
یـا رنـځ د هوسـونو
یـا دښـته د جنـون سـي،
یـا ښـاروي د فکرونـو
یـا زوی د لېـونی وي،
یـا پـلار سـي د عقلونـو
یـا ګټـه د ګنـاه کـړي، پـه حسـاب د ثوابـو
یـا پیښ پـر اصـلي جـام سـي، د سـاقي د پیمـانو
یا سترې کونج کـي کښېني، نـه شیطان او نـه یزدان

دی ولاړی "کوه قاف" ته
تر "تورو اوبو" تېر سو
دی غرق په "هندوستان"(*) سو
په "روم"(**) کي را برسېر سو
یا ځان سو چیري پاته
یا دي له ځانه هېر سو

---

دی ولوېدی "ګنګا" ته
د حُسن په ایرو کي
دی ورک سو په "کنعان" کي
د میني په سلګو کي
دی وسوځي په اور کي
وفا د سوګندونو
یا ولوېږي و ځاته
تعبیر د اُلفتونو

---

(*) په لرغوني هند کي – د میني د بقا او اصالت فلسفي مکتب ته اشاره
(**) د مولاتای روم فکري مکتب ته اشاره.

دی حُسن د تصویر سي
یا رنګ سي د یادونو
یا ستوری د سحر سي
یا سیوری د رنګونو
یو سوال له کتابونو، یو ځواب له فلسفو
پادري! ملا! مهاراجه! یه هوښیارو لېونو!
دا ژوند غلام د رنګ دی؟ که باچا دی د ارمان؟
دا مور پر ګل مین یو، که ګل هم لري جانان؟
او:
دا بت د آدم جوړ دی؟ که بت خپل لري بګوان؟

اګست – ۲۰۰۲
واشنګټن ډي، سي

## سارايي مينه...

د بېلتون له تندي مرمه
د وصال جام ماتومه
دا غرور د يار د مينې
که زما بېحسابي ده؟

چې په هر دم او قدم کې
ټکر خورم په خولهٔ پرېوزم
دا يې لار د کانو ډکه؟
که مې مينه شرابي ده؟

ځګر و ريت کړل کبابونه
او ښکو ډک کړله جامونه
د بېوسه ملنګ کور کې
شهنشاه ته مهماني ده

بنـو! لار کـړئ ورتـه پاکـه
روحـه! مخـي لـه ور وزه
بُت پرست صنم را دروميـ
هـم راجـا دی هـم رانـي ده

ګـران وي پـام کـړه لېونيـه!
پتـه مينـه رسـوا نـهٔ کـړې
د ګـل بـوی کلـه پټېـږي
ګلـه! پـای يـې رسـوايي ده

شيخي ځـه! الله دي مـل سـه
تـوبې! سـو ځه ځو ايـره سـې
د صنم سترګي مي سرې سوې
تـو ده غبـږيـې دوږخـي ده

پام چي تـه رانـه ورک نـهٔ سې
پـام چي زهٔ درنـه هېر نـهٔ سم
ښـار بـازار د هوســونو
زمـوږ مينـه سـارايي ده

مـا د ژونـد پـه بيـه رانيـو
دهٔ د ورځي په نرخ خرڅ کړم
ماوې ګوره: چي تېر نه وزې
دهٔوې: چُـپ سـه ارزانـي ده

---

مسئلې سوې لاندي باندي
کتابونـه ټـول تمـام سـوه
د "لا،لا" نـاره سوه پورتـه:
"څـه لار ورکـې مُلايـي ده

---

هــره نفـي يـې اثبـات ده
هـر اثبـات يـې حيرانـي ده
هنګامـه د چـا د حُـسن؟
کــه د مينـي طـالبي ده؟"

مئ- ۱۹۷۹
کابل

✡ ✡ ✡

## ورکه تنده...

لـــه آدمـــه، تـــردې دَمـــه
لـــه بېګـــا تـــر صـــبحدمه
همدغـــه پيـــالې تـــشيږي
همدغـــه شـــمع بليـــږي
ګوره څو پيالې وي نوري، د دې تاک مستو رګو کې؟
ګوره څو پروانې ښخي، د دې شمعې په لمبو کې؟

د هستۍ د مطرب غېږ کې
دا ښایسته رباب د مینې
د نېستۍ شهباز پر ناڅې
تنوې د زړګي وینې
ګوره څو نغمې وې نورې، د دې ساز تو دو پردو کې؟
ګوره څو افسانې پاته، د دې لنډو ورځو شپو کې؟

---

له ذرې تر کهکشانه
له دې مځکې تر آسمانه
په ځګر د افلاتون کې
په تندې د ورک مجنون کې
تنده تږې ده له تندې، د دې بحر په څپو کې
"ورکه" ورکه ده له ورکې، د دې ښار تنګو کوڅو کې

---

په هر رنګ او په هر تنګ کې
هم په سوله هم په جنګ کې
په خوښۍ او په ماتَم کې
په هر زِیر او په هر بَم کې
دغه یو آواز را رسي، دغه یو شهتار ترنګیږي:
"د آدم د زوی جنون دی له خپل سیوري نه پټیږي"

---

کله خاندي کله ژاړي
ګوره څهٔ؟ له چا؟ نه غواړي
د پوښتنو یو جهان دی
په تیارو کې را روان دی
په ماشوم زړه کې یې وېره، رنګ یې تښتي له انسانه
موریې "مینه" وه ګونګې وه، پلاریې "عقل" سرګردانه

جون– ۱۹۹۲
واشنګټن دي، سي

## پردېسي...

زهٔ له اصله شهزاده وم
د باچا د محل خوا کي
د شینکي آسمان په غولی
د رنګین شفق خندا کي
د پی، مخي اوریځ غېږه
د بوډۍ رنګین تالونه
زهٔ په مینه زنګېدمه
په نازونو نازېدمه
لوېېدمه، لوېېدمه
یو مرموزه افسانه وم، په رمزونو تېرېدمه

د ځوانۍ تنکي رګونه
د غرور په مې بدمسته
د تور مخي لولۍ دام کي
د هوس ګرمۍ خوله کړه
د بايللي بساط آس ؤ (!)
په اسره يې جنګېدهٔ وه

د تورانو تور افسون ؤ
په منتر يې خلاصېدهٔ وه
جنګېدمه، جنګېدمه
د اَتلو مُعرکه وم، په شبخون کي اوسېدمه

د ګناه د غرونو شاته
د عصمت لمر رانه ډوب سو
د ارمان خونړۍ کندي
د طلب تږي دښتونه
د بېلتون درانهٔ بارونه
د تهناکي شمزۍ خونه
د زخمي پوندیو وینه
تر مزلهٔ یې رسومه
یو لار وروکی پردېسي یم، ستړې لاره لنډومه

په مخ ځم پر خولهٔ پرېوزم
وحشي ژرکي ښکلومه
د نامراده پرون کښت دی
تر سبا به يې رېبمه
د زقوم زهريله څانګې
د شوګيرو سترګو کسی
په خوناب يې مړومه
په آه آه يې ويدومه

د "لا،لا" د فوج حمله ده، د اِله د غره پېچومی
"الاالله" را ننګومه، يو لار ورکی پردېسي يم
ستړې لاره لنډومه...

نوامبر– ۱۹۸۴
ميانوالي

# دا "خانان" خانان زما... [*]

دا خانان، خانان زما، د جنګ په رمزو نهٔ دي پوه
دا توران، توران زما د رنګ په غمزو نه دي پوه
څهٔ وکړم چاره څهٔ ده؟ د ژوند په لحظو نهٔ دي پوه
اوږد سولو داستان زما،

---

وينه يې توده، توده
مينه يې ګونګې، ګونګې
خيال يې څه او تر، او تر
هيله يې کچه، کچه
وصل يې لمس کړی نهٔ، د هجر په شپو نه دي پوه
وړکی، سو جهان زما

---

[*] دا زما بچو ته (خان، حبيب، کوچی) هغه وخت چې وړو کي وه.

ځانته یې کتلي نهٔ
زه یې پېژندلی نهٔ
مست د خپل احساس په حُکم
عقل یې څکلی نهٔ
خوږ مي کړي په لوبو کي، زما په دردو نهٔ دي پوه
بېل سو له ما توان زما

---

خاندي مي غمونو ته
تښتوي سوچونه زما
مات د فکر بوټي کړي
څيري کړي شعرونه زما
لوبي مي په ځان کوي، د ځان په قصو نه دي پوه
ورک سو له ما ځان زما

---

تل دي دا ګلونه وي
څۀ که زما ويني څکي
تل دي دا کلونه وي
څۀ که خوري عمرونه زما
رنګ دي د اخلاص په رنګ، د عشق په تنګو نۀ دي پوه
ګـار شـه تـرې ارمـان زمـا
دا ښايـسته ګـلان زمـا
دا خانـان، خانـان زمـا

اکتوبر – ۱۹۸۵
پېښور

## ای بزرګه بُت تراشه !!!

ای بزرګه بُت تراشه!
ای بزرګه بُت تراشه!
بیا دي څهٔ پیکر تراشلی؟
بیا دي کوم صنم نمانځلی؟
د آذر ګنهکار ذوقه
بیا دي کوم خلیل سېځلی؟
ای بزرګه بُت تراشه

---

ای بزرګه بُت تراشه!
بیا دي څه پیالې نوشلې؟
بیا دي څه سترګي لیدلي؟
چي په اورېږ اوبه خور کړې
دا دي څه فتنې کړلې؟

دا خاکه دي کړه له کومه؟
دا تېشه د کوم لوهار ده؟
او ر فطرته، آب طينته
په فن پوهه د خمار ده

اې بزرگه بُت تراشه

---

اى بزرگه بُت تراشه!
تا مجنون څرته ليدلى؟
تا ليلا څرته کتلې؟
دا احساس دي له چا واخيست؟
د بلا په پله ختلې
څو ماښامه دي سَحر کړه؟
څو آسمانه دي لنگر کړه؟
د شوگير خمار کاتۀ دي
څنگه رنگ په دا هنر کړه؟

---

تنکی مخ معصومه مینه
کچه عقل، توده وینه
د اُمید پرهېز ترکیب دی
نظرباز صنم خودبینه
څو توبې دي کړلې ذبحه؟
څو متکې سوې ورته ماتې؟
د خونرېز نظر مقتول يې
په بدمسته طرب ناڅې

څو ګناه وې دي کړې بښې؟
د خاطر په ګورستان کې
څو ليلا وې دي کړې ورکې؟
د جنون په رېګستان کې
څو سجدې دي سوې باطلې؟
د خيالونو له پروازه
څو تسپې دي ګډې وډې؟
د دې شوخ صنم له لاسه

ای بزرګه بت تراشه !
تهٔ زوړ سوی فن دي ځوان دی
تهٔ صرف تن يې هغه جان دی
د ګناه عفوي خبري؟
پراخه ځکه لوی آسمان دی

---

زه دا نهٔ وايم چي ولي؟
دغه ښکلی سازوې تهٔ
يا د خپل هنر معبود ته
دا نذرونه نيازوې ته
خو، انصاف يو څهٔ په کار دی
موږه ولي غرقوې تهٔ؟

---

زموږ شيخي د خوف او تمي
ته د ميني لېوني سوي
موږ له ليري ورته ګورو
ته يې مخ ته سپېلنی سوي
زموږ د خامي تمي پور دی
ته د نقد حُسن غمی سوي

---

موږ تسبې د محراب کونج کي
ښخوو په اُميدونو
تا د خدای امانت بايلود
د جمال په ميدانونو
ستا شيوه قلندري سوه
زموږ بازار د لباسونو

---

ای بزرگه بُت تراشه!
ای بزرگه بُت تراشه!
لـږ پـه سـد شـه لـږ بينـا سـه
د خپل بَت د سترګو خيال کړه
لږ په عقل يې سامبال کړه
لږ يې ساته له نظره
لږ يې وېره د آزار کړه
د فطرت وحشت موجزن دی
لږ يې حد کې را ايسار کړه

---

دغه رمز د محفل نهٔ دی
لږ يې ساته په پردو کې
دغه بَت د طواف نهٔ دی
پټ يې ستايه په نغمو کې
غلی غلی ورته ګوره
د خيال کونج د زړهٔ په شپو کې

---

ای بزرګه بُت تراشه!
لږ په سد شه لږ بینا سه
د تکفیر فتوا دي ګرځي
د پرخو مست یې، لږ ملا سه، ای بزرګه بت تراشه!

ستمبر– ۱۹۸۵
کوټه

✡ ✡ ✡

## دنیا...

نـــې کومـــه، څـــې کـــوم
دُنیـــا د زړهٔ حـــرم غـــواړي
رنګ بیایي او ډنګ بیایي
ښـادي اخلي او غـم غـواړي
وینـــه د انـــسان غـــواړي
او مینـــه د جانـــان غـــواړي
ننګ وژني او جنګ غواړي
کعبـه سوځي صَنم غـواړي
ستـرګو کـې شـهوت یخـې
او شونډې په حسرت سوي
دا د ابلـیس مـور بـوډۍ
ښایـسته زوی د آدم غـواړي
ســـخته جَـــوارګره ده
خَـــوګره سِـــحر ګـــره ده

لوبــه یــې ناپاکــه ده
هنـر نـه لـري چـم غـواړي
نیمـــه د قـــدرت نـــشه
او نیمـــه د شُـــهرت خمـــار
دا د دوکـــې لـــور فتنـــه
بس درې کانې قسم غواړي
ګـــوره لېـــونی جانـــان
د چا په خیال کې ډوب جهان
خوښ خندان نصیب ته خپل
نهٔ زیات غواړي نهٔ کم غواړي
واوره د فقیـــر دُعـــا:
"امان! امان! امان! امـان!"
ځانلـــه د جنـــون برخـــه
او "**خان**" عقل عالم غواړي

۲۰۰۶ـ واشنګټن ډي، سي

## د "سَر" له پاسه "تَن"...

چې نه بنګ او نهٔ شراب وي
چې نهٔ چنګ او نهٔ رباب وي
نهٔ ساقي، نهٔ مکیزونه
نهٔ مطرب، د سوز سازونه
نهٔ ترخه پیاله د نار وي
نهٔ خواږه کاتهٔ د یار وي

نصیحت نه دی ناصحه، دا خو جوړه خودکشي ده
دا خو ځای د مېني نهٔ دی، د ژوندو مړو وطن دی

مُلا جانه! ژوند خو رنګ دی
بد رنګیو سره جنګ دی
یو څۀ مینه د یارانو
څۀ نفرت له رقیبانو
څو سجدې له کیفه ډکې
څو وعدې په وفا کلکې

ژوند مستي ده او خُمار دی، مرګ بېوسه بېهوشي ده
یو شمال د سرۀ سالو دی، بل جنجال د سپین کفن دی

---

رّب خو مینه ده احساس دی
په اسرو کله خپلیږي
لمونځ حضور دی او اخلاص دی
په دُرّو کله زده کیږي
ثواب لګ سو ګناه پټه
د ایمان کډې باریږي

"په زور کلي نۀ جوړیږي"! د آدم خټه وحشي ده
مُلا سد دی پښو ته تللی، ستا د "سر له پاسه‌تن" دی

---

فرشته نهٔ ده، انسان دی
نهٔ یزدان دی، نهٔ شیطان دی
څهٔ ثواب دی، څهٔ ګناه ده
لږ ژړا ده، لږ خندا ده
بغاوت دی او توبه ده
دا د نار (!) او نور (!) قصه ده

بې ستري خوی د ابلیس دی، آدم ټول پرده پوشي ده
د عزت وزن یې ساته، چاریَک نهٔ دی پوره من دی

ستا د پلار مینځه خونهٔ ده
دا دي خور ده دا دي مور ده
ستا د مور غلام خو نهٔ دی
دا دي پلار دی دا دی ورور دی
لږ په مینه یې سامبال کړه
لیږ د خدای د نظر خیال کړه

"اقتدار" یو "امانت" دی، "زمانه ازمایښتي ده"
پښتنو! زخمي یې مهٔ کړئ، هزاره خو هم بدن دی

اکتوبر - ۱۹۹۸ واشنګټن ډي، سي

## دلته!!!...(*)

دا د ورکو مغزو (!) ښار دی
د ماشـــین حکمرانـــي ده
دا د لڅـو سـپرو (!) کلـی
د دَلـــه ملـــک خـــاني ده

دلتـه هـر تـرازو مـات دی
دلتـــه هـــر وزن بېوزنـــه
دلتـه هـر دکـان قـانون دی
دلـه هـر سَـر خپـل سـري ده

(*) یعني امریکه.

دلته هر بدن ستومانه
دلته هر ضمير پرېشانه
دلته هره رشته پرې ده
د آسرو سره خپلوي ده

---

دلته هر ذهن اسير دى
دلته هر هنر تحقير دى
دلته هر ايمان يتيم دى
لوى كمال لويه تېكي ده

---

دلته هر ظلم جايز دى
دلته هر جُرم روا دى
يوه مينه لو ګناه ده
يو وفا لويه بدي ده

---

دلته هر ساقي بدنيته
دلته هر جام زهريله دى
دلته هر رند حسابي دى
د هوښيارو خر مستي ده

---

دلته هره شا لوڅیږي
دلته هر مړوند نڅیږي
دلته هره ملا څپلیږي
د مچکو ارزاني ده

---

دلته هره پرده (!) څیري
دلته هره ښکلې یخه(!)
دله هر شرم خوله دی
د شهوت سخته ګرمي ده

---

دلته هره مور بې زویه
دلته هر زوی بې پدر دی
دلته هره خور بې پته
د نامردو ورور ولي ده

---

دلته هر افغان انګرېز سي
دلته هر عرب یهود سي
د مردی جوهر نابود سي
مړه هوا یې اثري ده

---

دلته هر جیزس خبیث دی
دلته هر راهب ابلیس دی
عزازیل د ملک باچا دی
د فساد کار روایي ده

جادوګر په بساط ناست دی
د خامبازو سترګي پټې
د خپل لاس پاخهٔ (!) اومه سي
دلته هر رنګ (!) بدرنګي (!) ده

دلته هر سپین تور زړګی دی
دلته هر تور دی سپین سترګی
د فرنګ د ملک کابل دی
د "ډالرو سرداري" ده

اپریل – ۱۹۹۴
واشنګټن ډي، سي

# وحشي خيال...

ستا د ښکلا په سيلاب کي
په دې تور ياغي درياب کي
چي هر موج هره شېبه يې
د آرزو محل خراب کي

مين زړه مې توپاني سو
اشنا لاس راکړه غرقېږم

د سرو شوندو پيماني ته
ستا د مخ شرابخاني ته
تصور مي غلي غلي
سوالګر سوی نذراني ته

وحشي خيال ولاړ شرابي سو
خولګۍ راکه چي مستېږم

---

د ناپايه عشق څپو ته
د مغرور ښايست جلوو ته
مين زړهٔ مي توپاني سو
وحشي خال مي شرابي سو
په زړهٔ سختي، نامراد ژوند مي

ستا د حُسن قرباني سو
ساه مي اخله چي ستنېږم

کابل- ۱۹۷۳

# رنګ...

په تیارهٔ د اِنزواکي
د سګوت چُپه چپتیا کي
د یو غلي ځنګلهٔ خوا کي
زهٔ پټ سوی له هستیه
زهٔ ورک سوی له نیستیه
ژروم هېري نغمې
ښخوم تېر داستانونه:
هېر کړم، هېر کړم دې ناځوانه زمانې

لیـري لیـري لــه ښــکلانه
د ګــل مخــو لــه وفانــه
د سرو شونډو لــه سـودانه

تــښتېدلی یم لــه رنګــه(!)
بــدرنګ سـوی یم لــه رنګــه
پــاکوم د یــاد رنګونـــه
هېــروم بـــدرنګ کلونـــه

وسـوم، وسـوم دې "څــو رنګــه" یــاراني

زهٔ و تپـو تـورو شـپو تـــه
د تقـــدیر بنـــدیخانو تـــه
د وهمونـــو هـــدیرو تـــه

د لاقیـد احساس لـه کـوره
د بدمـست جنـون لـه زوره
غلـی، غلـی زمزمـې کـړم:
مـــاتوئ دا ځنځیرونـــه،

مـات کـړم، مـات کـړم د طِلـسم زولانـې

کابل- ۱۹۷۵

## زه شاعر یم...

اورَوم د خیال لـه هَـسکه
د رنګونـــــو پیمـــــانې
ټوکـوم لـه سپېرو خـاورو
د ښـکلا ښایـسته ګلونـه
د سـبا تتکـي بتونـه

پـه پیالو یـې اوبومـه
پـه سـازو یـې لوبومـه
زخمي زړهٔ مې ګهواره کړم
پـه "للـو" یـې ویدومـه

زهٔ انـسان یم، زهٔ انـسان یم
د ښایـسته خوبونـو مځکـه
د خیـالو رنګـین آسـمان یم

جوړوم له ماتو هیلو
د وهمونو زولانې
هستوم له وېرې، تمې
د عذاب تتګ دوږخونه
د ثواب پراخ جنتونه

---

په سجدو ځان خلاصومه
په توبو یې ګزومه
زما هستې په ما شرمېږي
نقد په پور سودا کومه

---

زهٔ انسان یم، زهٔ انسان یم
د قدرت(!) بېباک ابلیس یم
د قسمت(!) بېواک رحمان یم

---

ساز وم د ژوند له تکو
د وختونو ترانې
او لېږم د زړه له کوره
و بنکلا ته څو گلونه
و رڼا ته پټ خطونه

---

په نښويې نڅومه
په هنرېې لځومه
د زاهد له درانه رغه
له تو بويې پټومه

---

زه شاعريم، زه شاعريم
زما کار دی "مينه"، "حُسن"
نور له هر څه نه منکريم

کابل- ۱۹۷۳

# کوچی پېغله...

د سیند په غاړه،
د وبه ولاړه،
حیرانه پاته،
او ښان یې ولاړه

د پاولو هاریې په غاړه زانګي
پاس په اوربل یې "کلِمه داره"

---

د غرونو لور ده
د پوه د نور ده
حیا کي نغښتې
خندا، سرور ده

دا تنکـی پېغلـه د ګلونـو ونـه
څه ښهٔ ښکارېږي ځوانه او ښېښنه

---

په ورځو، شپو کې
په غرو رغو کې
لیږدي سفر کړي
سترو دښتو کې
مینه یې پاکه، ده وفا داره
نه یې چل ول زده نه فریب کاره

---

د آسمان غېږ کې
سپوږمۍ را زېږي
د غرهٔ لمن کې
شپېلۍ ږغېږي
د شپېلۍ ساز ته، پېغله نڅا کړي
شپونکی چې ویني، غلې خندا کړي

---

کله چې ګوري
زما وخواته
بيا يو نظر کړي
خپلي ښکلا ته
تښتي او څغلي د کږدۍ لورته
مسته ناره کړي وابۍ مورته

---

اې کوچۍ پېغلي!
ولي تورېږې؟
په تېښته، تېښته،
له ما پټېږې؟
وېره دي نه ده، پلار دي پښتون دی
زما له "تهايي" نه ښايي شرمېږې؟

جولايي- ۱۹۷۱
هلمند

## اې زما قامي بيرغه!!!

د خيبر له سر درونه
د اټک مستو څپو کې
د سرکښ سالنګ له څوکو
د کوکچې په سيلابو کې
د عقاب له خوني ځالي
د "يما" په کنډوالو کې
د بدمست هلمند له غيږې
د سيستان پراخو دښتو کې
په نڅا نڅا جلوه کړه، خپلواکي مو را پوره کړه
بت شکن اولس طاقت دي، بت پرستو ته ښکاره کړه
يه زما قامي بيرغه!
د اېشيا د زړه سرتاجه!

د زیار کښنو له لاسو نه
د خوَلو یاغي سیلاب کي
د سر تېرو له سینو نه
د سرو وینو سره دریاب کي
د هستۍ له سرچینو نه
د بقا رڼو اوبو کي
د "ویدا" له خمخانو نه
د "سوما" ډکو پیالو کي
عقابي وزر غوټه کړه، یو وار بیا سینه سره کړه
چنګ منګولي چنګ ته وروړه، اولسي نغمه توده کړه
یـه زمـا قـامي بیرغـه!
د ایـشیا د زړه سـرتاجه!

له کوږ که تر پامیره
دې غیرت، غیرت وطن کې
له آمو ترا باسینه
دې همت، همت بدن کې
د غیرت "میرویس" له کوره
د همت "خوشال" تر گوره
دې خپلواکه روهیستان کې
د سرو گلو گلستان کې
زما په گران افغانستان کې

آسماني رڼا خپره کړه، د بابا ارمان پوره کړه
چې منکر دې وي له زوره، دا پیغام ورته ښکاره کړه:
"د ځپو په سر چې پرزي، په کالۀ یې سیل مېلمه سي
بتان مات سي دړي وړي، د قدرت خونه چپه سي"
یه زما قامي بیرغه!
د اېشیا د زړه سرتاجه!

مارچ- ۱۹۷۵
کابل

# "د هلمند ترانې"

(دریم نمبر ترانه)...

هلمنده! وسوم د فتنو په آزار
د څو سرو څاڅکو پیالې رابنیَه
اشنایه! نیست کړم د هستۍ غمونو
څو د مستۍ دکې چینې رابنیه

ځواني مې هېره سوه د غم په پوله
ارمان مې یووړ ستمګرو څپو
نظر مې ولاړ په بد نظرو پسې
سوم نذرانه د اسره ګرو کتو

ما د زمان د توپانو په آهنګ
د سارهٔ بزم تودول غوښته
ما د ساقي د ګردشونو په دود
د بدمستیو پارول غوښته

ما د احساس په آسماني پلوشو
توري تیارې رڼا کولې تلمه
ما د خونکار اُفق د رنګ په ژبه
دا بدرنګې سبا کولې تلمه

---

هلمنده! زه خو په دردو وم مین
هلته دُنیا وه د بې دردو فتنه
زما انجام د لوی آغاز هنګامه
د دوی آغاز د لاړویو دوکه

---

زه د سارا د وحشي طبعې مین
دوی د بازار د څنځیرونو اسیر
زه د کوچې د پاک احساس خریدار
دوی د هوس په کړلېچونو کې ګیر

---

دا دی ییا راغلم ستا و غیږ ته اشنا
ځان درسپارمه د سیلاب په هیله
غوارمه دلته موج خېزی زده کړمه
د یوهٔ مست خوني شباب په هیله

---

غوارمه ستا د سیلابو په ژبه
د دې بې کوره اولسونو ارمان
یوسم غرځنو "چونغري"(*) سینو ته
ستا د شپنو ستا د اوښبنو رومان

---

پرېږده چي ستا له توپاني ځِگره
څو غیرتمني دُرداني ټولي کړم
د پامیري پیغلي وهسک ځِگر ته
د پښتني "گند"(!) سلسلې جوړي کړم

هلمند – ۱۹۷۵

---

(*) دا ترانه د چونغر شاعر .... ته هغه وخت اهدا سوې ده چي دی په شعر کي زما لاربښود شاعر او مُحسن مقتدا وو، د قدرت شیطان لا نه وُ خطا ایستلی او د سیاست په گند کي لا نه وو ښوئېدلی.

## د خان هوس....

د کلي خوا کي،
د کلا څنګ ته
ارت میدان کي
ګړه غوغا ده

شپه نیمه شپه ده
سپوږمۍ خندا کړي
د آسمان غېږ کي
ښه تماشا ده

محفل دی ګرم
نغمه خوږه ده
د هلک رقص دی
مسته نڅا ده

خانان تول سوي
ملکان جمع
د مجلس سر کي
له نورو پورته

د سرو غاليو
آرام بستر کي
مغروري سترګي
ګوري هر لور ته

لوی تندي خپتي
خوار ايمانونه
دي تسليم سوي
د هوس زور ته

هوري ورِهسته
په سپېرو خاورو
څو سپېرهٔ مخي
خوار سيلېدلي

د ژوند له رازه
ناخبر پاته
له عُمره عُمره
زار ځورېدلي

د غم له اوښکو
په ډکو سترګو
ناست بې خبره
خوښ خندېدلي

د میدان مینځ کي
یو ژړ زیړښلی
ډول زن ولاړ دی
سترې ستومانه

د ډول په تال سَم
سُرناچي پورته
یو سوی ږغ کړي
ډک له ارمانه

له دې آوازه
د هلک پښو کي
د پایزېب شرنګ سي
جګ تر آسمانه

هلک چي تاؤ سي
د ساز آواز ته
په سپوږمۍ مخ يې
څښي خوري سي

پيا پر ملا غبرګ سي
له ډېره نازه
نازک اندام يې
ذرې ذرې سي

کله چي ګير سي
د خان په غېږ کي
له ډېره شرمه
خولې خولې سي

سهار نژدې دی
شپه ښه پخه سوه
هلک لا ناځي
د ساز آواز ته

دی چې زنګیږي
له شوګیریه
خان یې هوس کړي
د سترګو ناز ته

بیا یې نژدې کړي
و خپل بغل ته
لوټ ورپه خوله کړي
دې وحشي باز ته

خواران چې ګوري
د خان هوس ته
نو وچ شونډان يې
ترخه مُسکا کړي

دوی هوسېږي
د بل و عيش ته
په بېوسی خپل
خوږه خندا کړي

دې په نس وږو
په غم لړلو
خپل ژوند هېر کړي
سيل تماشا کړي

سپېدې چاودلي
لمر په ختو دی
"ملا" بانګ نهٔ کړي
د "خان" له ډاره

خان به پرې بنده
ځيره زکاة کړي
کې چيرې ږغ کړ:
"د خدای د پاره"

"ملا" غريب هم
خولهٔ ور نيولې
خپل زکاة اخلي
بد نه بېزاره

ډول زن چې وینې
د هلک نازته
نو ورپه زړهٔ سي
خپله هلکینه

د راز په ژبه
هلک ته وايي:
"نن لاس تر غاړه
د خان په مینه،

ډول به په غاړه
سبا زنګیږي
نس به دې موړ وي
د زړهٔ په وینه"

جولايي - ۱۹۷۱ - هلمند

## د شګو څَلې...

سیند شنېږي له مستیه
څپې سر وهي له ګاري
ساحل غلی غلی خاندي
پاکوي له شګو خاوري

---

د سپوږمۍ زریني وړانګي
د دلبر آسمان له غېږي
د ځنګلهٔ په ګڼو ونو
په لمن لمن اورېږي

---

هلته ليري پر ها ځنډو
د څېړې تر ونه لاندې
پيکه سيوري دي زنګيږي
که سايې سره غزېږي؟
يو وار دواړه سي نيم خېزه
د پيالو په دود جنګيږي
سره ورسي، سره بېل سي
ته وا ځانګي دي نڅيږي
بيرته ژر سره يو ځای سي
غېږ په غېږه کي ورکيږي
خوله او خوله غاړه او غاړه
لاس و ملا ته نږدې کيږي
يو سايه پر پاڼ غزېږي

د کتاب له سیوري ها خوا
د حساب له توري دا خوا
دا ګناه ده چې غرقېږي؟
که هوس دی چې ډوبېږي؟
مست شباب دی چې تېرېږي؟
که لحظه ده چې هېرېږي؟
یو غوټۍ ده چې غوړېږي
که یو ګل دی چې رژېږي؟
سا له سا سره ګډېږي
غېږ په غېږه کې ورکېږي؟
یو سایه پر پاڼ غزېږي

---

سیند شنېږي له مستیه
څپې سر وهي له کاري
ساحل غلی غلی خاندي
پاکوي له شګو خاوري

---

شپه په تېښته تېښته ولاړه
د سحر سترګه پیدا سوه
آسماني پېغلي رنګ بایلود
ته وا مینه یې رسوا سوه
پاس امېل د سپېدې توی سو
د جابر شفق خندا سوه

---

دلته هم د پاڼ له پاسه
سایه ورو ورو غلې کېږي
په لحظو سترې ګډېږي
یو بدن سره دوه کېږي
دوې سایې سره بېلېږي

---

مَست رهي سو و ځنګلهٔ ته
مَسته پاته ده حيرانه
لټوي د پاڼ لمنه
پلټي د وښو غاړه
چي ورک سوی هار پيدا کړي
چي مات سوی چارګل جوړ کړي

---

سيند لا هغه شان بهيږي
ځپي سر وهي له ګاري
ساحل ستړی له خندا سو
پاکوي له شګو خاوري
او:
زهٔ لا ناست يم په دې غاړه
جوړوم د کښځ له شګو
د "هير بت" (!) مات اندامونه
د وختو ويجاړي خوني
د وختو کندړ ښارونه

او چي ګورم:
و دې کڅ و دې څېرې ته؟
نو را یاده سي هغه شپه(!)
د ځوانۍ په اور خوله ځان
د څېرې تر ونه لاندې
د دې پاڼ توده سره شپه
ها د ربګو په بستر کې
د وربښمین مروند خوبونه
ها ځواني، ښايست او مینه
د نشه شوندو خوندونه
خو، ناڅاپه د سیند ټل ته
ګورم ځان ته، مات اټل ته
نو له ځانه ژر شرمېږم
لاس په سپینو څنو کاږم
له رنو اوبو پټېږم
کاڼهٔ ځان ته وبو ګڼېږم:

”په يوه ځپه نړېږي
دا د کڅ د غاړو کلي
دا د سپينو ښکو ځلی
دا د سيورو ياد ګارونه“

اګست– ۱۹۷۵
هلمند

☆ ☆ ☆

# د کار خولَې...

چرته چې د خام حریف په میل زېر او بم نهٔ وي
چرته چې ساقي سره څهٔ خیال د زیاد او کم نهٔ وي
چرته چې ګناه له دا حساب، کتاب قلم نهٔ وي

هلتــه بــه لېــوال زړګــی
د غــم د اوښــکو جــام زړګــی
دا ســتړی بــدنام زړګــی
د خُــم نڅــا تــه ونــاڅي

کله چې د خان د اسارت او غلامۍ کړی
دا د استعمار په موړې پورې، د نیستۍ کړی
وشلیږي د قام په زور، د خلگو د قیام په زور

هلته به زما خوار اولس
د درد په پېټې بار اولس
دا په سر د دار اولس
د ژوند خندا ته وخاندي

څهٔ وخت چې پاس تیټ نهٔ وي، سپین تور نهٔ وي
څهٔ وخت چې د کار له توانه پرته، بل څهٔ زور نهٔ وي
څهٔ وخت چې انسان سره د غصب، دام او تور نهٔ وي

هله به نو توان زموږ
"لوی افغانسان" زموږ
ټول انسانستان زموږ
د کار خولو کې ولامبي

کابل - ۱۹۷۵

# خان ته ځواب...

**خان** وې بابکه! حال دې څنګه؟ ژوند په څهٔ تېرېږي؟
ما وې جانانه! ډېر په بده، لږ په ښهٔ تېرېږي
ماښام د ژمي، تېرومه په مالګينه واوره
غرمه د دوبي مې، په دود د تنارهٔ تېرېږي
ښادي يو څاڅکې خولهٔ خندا، لکه برېښنا په منډه
د غم وريځ مې، په سر چتر سي او نهٔ تېرېږي
کارغه بوډا سو، په کغ کغ، د اوږدهٔ ژوند په ثناء
باز وې اشنا: "ژوند مزه دار وي چې په برهٔ تېرېږي"
د شريک کور خوږې، زما او لالا سم په نيمه
د شريک اور لمبې په ما، او دود په دهٔ تېرېږي

هسي خو "ژوند" د تېرېدو نامَه ده ښهٔ يا ناښهٔ
خو نن په ماچي تېرېدى نهٔ سي، هغهٔ تېرېږي
کور مي د سيند په غاړه پروت، د حوادثو کوربه،
مصيبت هر پلو چي ځي، زَما په پلهٔ تېرېږي
درد مي په شا، هډونه مات، پردېسي بار د اوږو،
خوږه خانو! الندې يې دا چي: "بې تا نهٔ تېرېږي"

۲۰۱۳ - واشنګټن ډي، سي

✡ ✡ ✡

نوټ: دا نظم په دوه بحره کي ویل سوی دی.

# دا زما شهزاده مړ وهه!!!

-۱-

ای خانه! ظالم خانه، دا زما "شهزاده"(*) مړ وهه!
زما "شهزاده" مړ وهه!
ای خانه! ظالم خانه!

---

دا زما ماشوم جانان
دا زما نازک ارمان
دا د ګلو ګل زما، د ژوند د باغ بلبل زما

---

(*) زما لمسی حُسین علي خان.

دا زما د شپې سَحر
دا زما د ژوند مازګر
دا د مينې يار زما
دا د حُسن ښار زما
دا زما دُعا مينه
دا زما وفا مينه
دا زما د خان وينه
دا زما د ځان وينه
دا د سترګو تور زما
دا د حجرې شور زما
دا د متو زور زما
دا د اُميد کور زما
دا د رّب سوغات ماته
خوږ تر قند نبات ماته
اى خانه! ظالم خانه! زما شهزاده مهٔ وهه

دی چي لوبي ستړی کړی
رایې سي د خوب څپه
پټ ستورو ته وخېژي
ګډ په جنتونو سي

---

دی هلته جانان لري، د لوبو شریکان لري
دلته! د "ابۍ" بالښت، او هلته د خوب ټال لري
دا د فرشتو جڅک، عجب غوندي جمال لري
دا د ختمو جوړ غمی، څه پټ غوندي کمال لري
دی چي خوب کي وخاندي
دا د رّب خندا ویني
دی چي خوب کي وبوګني
دا هلته رڼا ویني

---

بیرته چي را وګرځي
راسي و دنیا ته ستا
غواړي دي پسته مینه
تږی وي خندا ته ستا

دی وربې وي ډوډی غواړي، ګڼې غواړي، ګڅې غواړي
دی تږی وي شیدې غواړي، څڅوس غواړي خوږې غواړي

-۲-

او، ته؟
ته دا وخت ورته لګیا سې
بې زربا او میم زرما سې
ون، تو، تري او اې، بي، سي سې
ملازم شان سرکاري سې
په منت او په غصه سې یا څپیړه یا ډنډه سې
داسي مه کوه اې خانه!
داسي مه کوه اې خانه!
لږ زما خبره واوره!
لږ مي دا خبره واوره:
شهزاده د بابِت زړهٔ دی، هم یې هډ هم یې ماغزه دی

تې د مینې په تال لوی کړه
تې د حُسن په خال پوی کړه
دی د رّب سره اشنا کړه او طالب یې د دعا کړه

---

لږ د وخت په رنګ یې پوه کړه
لږ د ژوند په جنګ یې پوه کړه
لږ سبق د ایمان ور کړه
لږ د دین په ننګ یې پوه کړه

---

ورکوه! مینه وفا ستا
وربښیه! پاکي، حیا ستا
ورپوکه! سرور مستي ستا
ورکوه! یاري دوستي ستا

---

دا یو ګل دی ته یې باغ کړه
دا ورانګه ده تې څراغ کړه
دا یو تار دی ته یې ساز کړه
دا وزر دی تې پرواز کړه

---

و "بابِت"(*) ته يې همسا کړه
و "عافی"(**) ته يې وفا کړه
دی د مور د کور رڼا کړه
دی د ورور د زور همتا کړه

---

که ته خان يې؟ دی خان جوړ کړه
تر ځان ښهٔ انسان ترې جوړ کړه
د خانانو خان ترې جوړ کړه
دا د مځکي خاورين زړی
ته رنګين آسمان ترې جوړ کړه
دا د خدای امانت ساته
د جانان، جانان ترې جوړ کړه
د خانانو خان ترې جوړ کړه

۲۰۱۴ – واشنګټن ډي، سي

---

(*) زه لمسو بابِت نومولی يم.

(**) زما لسمی.

○

سپینکی توره په آبداره ژبه پرې کړي
د نامردو څو ګکري د مردانو څو سرونه
هی توبه! له بربادی د تورو، تورو (!)
اوبوي د کاڼي زړهٔ فولادي غرونه

اکتوبر – ۱۹۸۵
کوټه

○

په نشه سترګو یې څاره
د دلبر د راتګ لاره
د قیامت د دریغ شان دی
عقل تښتي له هوښیاره

اکتوبر – ۱۹۸۵
کوټه

○

د پیرۍ رنځور وجود کي، د ناسور هسي دانه ده
هم طاقت دی، هم ثروت دی، هم ښامار هم خزانه ده
هیڅ آدم، آدمخور نهٔ دی، سرمایه ده شرمایه ده
رّبه نوم یې لا ایره کړې، که "ښامار" که "خزانه" ده

۱۹۹۴- واشنګټن ډي، سي

✡ ✡ ✡

## بې اسرې... (*)

بې اسرې يتيم هلک وم،
د دنيا له ټولو شتو نه،
ما درلودې بينا سترګې،
مالامال له پلوشو نه،
ښکاريدهٔ د زړهٔ آرام مې،
د ړنو سترګو وړانګو نه

---

زهٔ په ډېره هيله هيله
ور رهي سو مه ښارو ته
خلګو هيڅ اعتنا نکړه
زما هيلو اُميدو ته
نا آشنا ورته ښکاره سوم
چالاکيو فرېبو ته

---

(*) وُرلن – اروپايي شاعر.

شل کلن وم چي مي زړهٔ کي
يو پټ اور بل سو د ميني
زه مين سومه په پيغلو
ټوله پيغلي سوې را ښکلي
مګر هيڅ يوې خوښ نکړم
سوې ناکامه مي دا هيلي

---

وطن کوم دی؟ ټولواک څوک دی؟
حيران پاته وم دې راز ته
څو د مرګ ناکامه هيلي
وروستم د جنګ محاذ ته
خو مرګ هم اعتنا نکړه
زما د هيلو آواز ته

---

زۀ اوس ځان باندې پوه نيم
چې وځۀ لره پيدا يم؟
زما له ژونده مقصد څۀ دى؟
ناخبر له دې معنا يم:
"ما نه وخت د دنيا تېر دى،
که پخوا له دې دنيا يم؟"

هلمند- ۱۹۷۱

✡ ✡ ✡

## فرېب... (*)

ټوله، ټوله تريو وخته خطاوزي
ځيني، ځيني تر ابده هم تېروزي
خو، د چل او د فرېب تورو دامو کي
پام کړه! ټول د تل لپاره نهٔ ګنبېوزي

هلمند - ۱۹۷۱

## ژوند... (**)

ژوندون څه دی؟ د زربفتو يو ټوټه ده
د مخ خوا کي يې ښکلا جلوَه جلوَه ده
که مطلب دي اګاهي په سِر د بافت وي
د شا خوا کي يې ښکاره اصلي بڼه ده

هلمند - ۱۹۷۱

---

(*) فرانکلن - امريکايي مفکر.
(**) شوپنهاور - اروپايي مفکر.

# هېرول...(*)

هېر کړه! هېر کړه! هر څه هېر کړه! ټول هېر کړه!
لوی هنر دی دا هنر د هېرولو!
لري، لري کړه له ځانه و بل لور ته،
هغه بار چي لري قصد د درنولو
ته د روند بار سیند ته ګذار کړه که دي خیال وي
اشنایي د لوړو څوکو، الوتلو
هله ژر سه! سیند دغه! دی، ځان ارتاو کړه،
لوی هنر دی دا هنر د هېرولو

هلمند – ۱۹۷۱

(*) نیچه – اروپایي مفکر.

ســـوز د حـــال دی شـــور د قـــال دی

"د وخت ضَرب" دی د ژوند تال دی

دا د حُسن د خان ننګ دی، د جابرو تورو جنګ دی

ځي په پورته مخ په بره، د "لا ، لا" د فوج حمله ده

دا د تـــورو ســاحـــري ده، و جــانـــان ته نذرانه ده

ښـــاريـــه وهي د عقـــل، د "**ملا**" د خيـــال دُرّه ده

د ګونګی ميني غصه ده

د جنـــون ورکـــه قصـــه ده